د پوهنې وزارت

ټولنیزلوستونه

پنځم ټولګی

ټولنیزلوستونه د پنځم ټولګی لپاره

۱۳۹۹ هـ. ش.

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

ټولنیز لوستونه

پنځم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۹ هـ . ش.

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: ټولنیز علوم

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د ټولنیزو علومو څانګې علمي او مسلکي غړي

اېډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اېډیټ د څانګې علمي غړي

ټولګی: پنځم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۹ هجري شمسي

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

د پوهنې د وزير پيغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او ليک له نعمت څخه يې برخمن کړي يو، او د الله تعالی پر وروستي پيغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پيغام ورته (لوستل) و، درود وايو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمريز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونيز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدينو شوراګانې د هېواد د پوهنيز نظام شپږګوني بنسټيز عناصر بلل کيږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختيا او پرمختيا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونيز نظام کې د ودې او پراختيا په لور بنسټيزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونيز نصاب اصلاح او پراختيا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړيتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځيو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونيزو تأسيساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کيفيت او توزيع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور يو، چې د باکيفيته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنيو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونيز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مديرانو څخه په درناوي هيله کوم، چې د هېواد بچيانو ته دې د درسي کتابونو په تدريس، او د محتوا په لېږدولو کې، هيڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د يوه فعال او په ديني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زيار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤوليت په درک سره، په دې نيت لوست پيل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د يوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځيرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدريس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونيز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په ليکلو او چمتو کولو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بريا غواړم.

د معياري او پرمختللي ښوونيز نظام او د داسې ودان افغانستان په هيله چې وګړي يې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزير

دکتور محمد ميرويس بلخي

لړليک

شمېره	سرليکونه	مخونه
١	ټولنه څه وايي؟	١
٢	انسان او ټولنه	٣
٣	ټولنيزې اړيکې	٥
٤	سولې ته د ټولنې اړتيا	٧
٥	د انسان حقونه	٩
٦	ټولنيز خدمتونه	١١
٧	ښوونه او روزنه	١٣
٨	عامه روغتيا	١٥
٩	اوبه رسول	١٧
١٠	بريښنا	١٩
١١	مخابرات	٢١
١٢	د ډاک خدمتونه	٢٣
١٣	ټولنيزې رسنۍ	٢٥
١٤	انټرنېټ	٢٧
١٥	ترانسپورټ	٢٩
١٦	ښاروالي	٣١
١٧	پوليس	٣٣
١٨	د ترافيك پوليس	٣٥
١٩	کرنه	٣٧
٢٠	حبوبات	٣٩
٢١	صنعتي او طبي نباتات	٤١
٢٢	مېوې	٤٣
٢٣	سابه	٤٥
٢٤	مال ساتنه	٤٧
٢٥	پسونه	٤٩
٢٦	غواوې	٥١
٢٧	آس	٥٣
٢٨	اوښ	٥٥
٢٩	د چرګانو فارم	٥٧
٣٠	د کبانو فارم	٥٩
٣١	د صنايعو اهميت	٦١
٣٢	لاسي صنايع	٦٣
٣٣	غالۍ اوبدل	٦٥
٣٤	چمياري	٦٧

شمېره	سرلیکونه	مخونه
۳۵	خامکګنډل	۶۹
۳۶	ماشیني صنایع	۷۱
۳۷	د نساجیو او اوبدلو کارخانه	۷۳
۳۸	د درمل جوړولو صنعت	۷۵
۳۹	د سمنټ جوړولو فابریکې	۷۷
۴۰	درانه او سپک صنایع	۷۹
۴۱	تور او رنګه فلزات	۸۱
۴۲	ترکاڼي او حجاري	۸۳

شمېره	سرلیکونه	مخونه
۴۳	سوداګري	۸۵
۴۴	داخلي سوداګري	۸۷
۴۵	بهرنۍ سوداګري	۸۹
۴۶	زموږ د هېواد بندرونه	۹۱
۴۷	د ژوند چاپېریال	۹۳
۴۸	اقلیم	۹۵
۴۹	د افغانستان اقلیم	۹۷
۵۰	د برېښنا تولید	۹۹
۵۱	د افغانستان کانونه او طبیعي زېرمې	۱۰۱

لومړی څپرکی

ټولنه

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د ټولنې په مفهوم پوه شي.
- انسان به د ټولنيز موجود په توګه و پېژني.
- د ټولنې په پرمختګ کې د ټولنيزو اړيکو ارزښت تشريح کړای شي.
- د سولې، پخلاينې او انسان دوستۍ سره يې مينه او علاقه زياته شي.
- خپل او د نورو حقونه و پېژني او هغو ته درناوی وکړي.

لومړی لوست

ټولنه څه ته وايي؟

پوښتنه: ستاسو په آند، ټولنه څه ته وايي؟

ټولنه د خلکو هغې ډلې ته ويل کېږي چې ډېره موده يې سره يو ځای ژوند کړی وي، ګډه سيمه يې په واک کې وي او ګډې موخې ولري.

د بېلګې په توګه: هغه خلک چې په يوه کلي کې ژوند کوي، د يوې کليوالي ټولنې خلک دي، د کليو د اوسېدونکو ګډه موخه دا ده چې د مال ساتنې او نورو چارو له لارې يو له بل سره مرسته کوي او خپل ژوند سمبالوي.

دکلیو د خلکو شمېر لږ وي نو له دې امله کلی یوه وړه ټولنه ده.
په یوه ښوونځي کې زده کوونکي او ښوونکي هم د یوې کوچنۍ ټولنې وګړي دي، د دې ډلې ګډه موخه د علم او پوهې زده کول دي.
هغه خلک چې په یوه هېواد کې ژوند کوي، د یوې لویې ټولنې وګړي ګڼل کېږي چې هغې ته ملت ویل کېږي.
ټول مسلمانان چې په بېلابېلو هېوادونو کې ژوند کوي،د یوې لویې ټولنې وګړي دي چې د اسلامي امت په نامه يادېږي.

فعالیت

د لویو او کوچنیو ټولنو د توپیر په اړه په ډلو کې خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- ټولنه څه ته وايي؟
۲- د یوې کوچنۍ ټولنې، لکه: د ښوونځي، موخې څه دي؟
۳- کلیوال خلک له کومې لارې څخه د خپل ژوند اړتیاوې پوره کوي؟

کورنۍ دنده

د ټولنې په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

انسان او ټولنه

پوښتنه

ستاسو په آند، انسان او ټولنه په خپلو کې څه اړیکې لري؟

ټولنه د انسانانو د راټولیدلو او د هغوی د دوه اړخیزو فعالیتونو څخه منځ ته راغلې ده چې یوځای سره ژوند کوي او ګډو موخو ته د رسیدو لپاره یو له بل سره مرسته کوي.

د انسان له ځانګړنو څخه یوه هم د هغه د ټولنیزو اړیکو درلودل دي.انسان په یوازې ځان د خپلو اړتیاوو د پوره کولو وس نه لري. له دې کبله، ټولنیز ژوند ته اړتیا لري چې په ټولنه کې خپلې اړتیاوې پوره کړي.

د ټولنې هرغړی کولای شي چې له تاسو سره د ستونزو په وخت کې مرسته

وکړي او ټولنه کولای شي چې له تاسو سره په جسمي، عاطفي او مالي برخو کې مرسته وکړي. خلک تل په خپلو کې د اړیکو د ټینګښت لپاره کوښښ کوي، د هغوی دغه اړیکې، قوانین او مقررات رامنځته کوي چې ټولنه منظموي.

مور ته په کار دي په هغو تصمیمونو کې چې په ټولنه کې د ګډو موخو د رسېدلو لپاره نیول کېږي، د ټولنې د یو ښه او منظم غړي په توګه مرسته وکړو؛ یو بل ته لاسونه ورکړو او په ګډه د یوې ښې ټولنې په جوړولو کې کوښښ وکړو.

فعالیت

په ډلو کې د انسان او ټولنې په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- انسان په یوازې ځان خپلې اړتیا وې پوره کولای شي؟

۲- ټولنه له تاسو سره څه مرسته کولی شي؟

۳- د یوې ښې ټولنې د جوړولو لپاره څه باید وکړو؟

کورنۍ دنده

د انسان او ټولنې د اړیکو په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

ټولنيزې اړيکې

پوښتنه

ستاسو په آند، انسانان کولای شي چې له نورو سره له اړيکو پرته په ټولنه کې ژوند وکړي؟

انسانان کولای شي چې يو له بل سره اړيکې ټينګې کړي او خپل مقصد يوبل ته ځرګند کړي.

نوی زیږيدلی ماشوم په ژړا سره مور او پلار پوهوي چې وږی شوی يم، خو کله چې مور شي خپله خوښي په موسکا سره ځرګندوي.

ماشوم له نورو سره د اړيکو ټينګولو او د خپلو غوښتنو د پوهولو ډېر لږ توان لري، خو ځومره چې لويیږي، خبرې او اشارې زده کوي چې د هغو په واسطه کولای شي له نورو سره اړيکې ټينګې کړي.

هېڅوک په يوازې ځان نه شي کولی چې خپلې اړتياوې پوره کړي، نو ځکه يو د بل مرستې او لاس نيوي ته اړتيا لري. په خپلو کې د مرستې او اړيکو د

ټینګولو په ترڅ کې کولای شي چې خپلې اړتیاوې په آسانۍ سره پوره کړي.
نن ورځ د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره د خلکو ترمنځ اړیکې د ډله ییزو ارتباطي وسایلو، لکه: موبایل، کمپیوټر، انټرنېټ او د داسې نورو له لارې ډېرې آسانې شوې دي. ژبه، په بشري ټولنه کې د اړیکو نیولو یوه مهمه وسیله ده.
انسان د ژبې په واسطه کولای شي چې ډېر مشکل مفاهیم او احساسات نورو ته انتقال کړي. که چېرته انسان خپل مطلب نورو ته نه شوای وړاندې کولای، نو بشري پوهې به هېڅکله پرمختګ نه وای کړي.
موږ په داسې حال کې چې د خپلې کورنۍ غړي یو، د خپل کلي، ولسوالۍ، ښار او د هېواد له نورو وګړو سره هم اړیکې لرو. نو له دې امله، هرڅومره چې له نورو سره زموږ اړیکې ډېرې وي، په هماغه کچه د خپلې ټولنې اړتیاوې په ښه ډول سره پوره کولای شو.

فعالیت

په ډلو کې د ټولنیزو اړیکو د اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- له نورو سره اړیکې څه ګټه لري؟
۲- انسان کولای شي چې په یوازې توګه خپلې اړتیاوې پوره کړي؟
۳-د ټولنیزو اړیکو په ټینګښت کې ژبه څه رول لري؟

کورنۍ دنده

د ټولنیزو اړیکو په پرمختګ کې د ژبې د رول په اړه څوکرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

سولې ته د ټولنې اړتیا

پوښتنه

څه فکر کوئ، موږ سولې ته ولې اړتیا لرو؟

سوله، روغې، آرامۍ او له جګړې څخه لرې ژوند ته وايي.

ډېر کلونه کیږي چې جګړې او ګډوډۍ زموږ خلکو او هېواد ته ډېر مالي او ځاني زیانونه اړولي دي. ځکه خو موږ له هر څه د مخه سولې ته ډېره اړتیا لرو،

سوله د ژوند اړتیا ګڼو او سولې ته د رسیدلو لپاره کوښښونه کوو.

سوله او آرامي ټولنه د پرمختګ او پوهې پر لوري بیايي. په ټولنه کې د سولې او امن په راوستلو سره د خلکو ترمنځ اړیکې ټینګیږي او د ماشومانو او تنکیو

ځوانانو لپاره د ښوونې او روزنې ښې زمینې برابرېږي، د غیر قانوني کارونو مخه نیول کېږي او ځوانان کولای شي چې په ډاډه او آرام زړه خپلې زده کړې پرمخ بوځي.

له دې کبله د هېواد د هر وګړي اسلامي او انساني دنده ده، چې د سولې په ټینګښت کې زیار وباسي.

فعالیت

په ډلو کې د سولې د ګټو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- زموږ خلک سولې ته ولې اړتیا لري؟

٢- په کومو شرایطو کې کولای شو چې په ښه توګه تعلیم او زده کړه وکړو؟

٣- د ټولنې د پرمختګ لپاره کوم شي ته اړتیا ده؟

کورنۍ دنده

د سولې د ښېګڼو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د انسان حقونه

پوښتنه

ستاسو په آند، انسان کوم حقونه لري؟

د قرآن کريم د لارښوونو او د بشر د حقونو له نړيوالې اعلاميې سره سم، د انسان حقونه دا دي:

د ژوند حق: د ژوند حق او ژوند الهي ورکړه ده. بايد ټول انسانان د ځان او د نورو د ژوند ژغورنې او ساتنې لپاره هڅې وکړي، ځکه چې دا زموږ د ټولو انساني دنده ده، لکه څنګه چې خپل ژوند رابانديې ګران دی، د نورو ژوند هم را بانديې ګران وي نو لازمه ده چې د بل چا ژوند ته زيان ونه رسوو.

د زده کړې حق: هرڅوک حق لري چې زده کړه وکړي، په ښوونځيو او پوهنتونونو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

د مالکيت حق: هرڅوک حق لري چې کور، ځمکه، موټر او داسې نور ولري، موږ مسلمانان بايد د نورو ملکيت ته درناوی ولرو او د نورو په مال بانديې زياتی ونه کړو.

د اوسيدلو او ګرځيدو راګرځيدو حق: هرڅوک کولای شي چې په خپل هيواد کې کور ولري او په آزادۍ سره وګرځي.تاسو کولای شئ چې په افغانستان کې هرځای ته چې وغواړۍ ولاړ شئ، هرچيرته چې وغواړۍ ژوند وکړئ او د نړۍ هرځای ته چې وغواړئ سفر وکړئ.

د دندې او کار آزادي: هرڅوک حق لري چې د ځان لپاره له خپل توان او خوښې سره سم يوکسب او کار وټاکي.

د سالم چاپيريال د لرلو حق: هرڅوک حق لري چې په يوه پاک او سمسور

چاپېریال کې ژوند وکړي او حکومت باید په دې اړه له خلکو سره مرسته وکړي.

برابري: ټول انسانان په خپلوکې سره برابر او مساوي دي، هېڅوک حق نه لري چې د ژبې، مذهب، سیمې او نورو له کبله یو پر بل باندې ځان ښه وګڼي،موږ مسلمانان نه یوازې په خپلو کې مسلمانان وروڼه یو، بلکې په خپلو کې برابرهم یو.

د آزادۍ حق: آزادي او شخصي مصوونیت د هرانسان حق دی،باید چې هغه ته درناوي وکړو. هرهغه څه چې د ځان لپاره خوښوو، د نورو لپاره یې هم خوښ کړو او حق نه لرو چې د نورو آزادۍ ته زیان ورسوو.

د بیان آزادي: هرانسان حق لري هرڅه چې غواړي په ژبه یې ووایي،خو چې د اسلام د دین د اصولو پرخلاف نه وي او یا د نورو په زیان نه وي ترڅو د نورو حقونه تر پښو لاندې نه کړي، د بېلګې په توګه:موږ حق نه لرو چې نورو ته بد ووایو.

فعالیت

په ډلو کې د هرچا د حقونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د ژوند حق بیان کړئ؟

۲- د انسان دحقونو نومونه واخلئ ؟

۳- د زده کړې حق څه شی دی، بیان یې کړئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مالکیت د حق په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکي او سبا ته یې دې په ټولګي کې ووایي.

دويم څپرکی

ټولنيز خدمتونه

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د ټولنيزو خدمتونو په مفهوم پوه شي.
- په هېواد کې د ښوونې او روزنې په بهير پوه شي.
- د اوبو رسولو او د ځښلو د پاکو اوبو په ارزښت پوه شي.
- د عامې روغتيا په مفهوم او اهميت پوه شي.
- د برښنا، مخابراتو، پوستې، انټرنېټ او ټولنيزو رسنيو د اهميت په هکله توضيحات ورکړای شي.
- د ښاروالۍ، پوليسو او د ترافيکو د پوليسو سره د مرستې روحيه پيدا کړي.

شپږم لوست

ټولنيز خدمتونه

پوښتنه

ستاسو په آند، خلک ولې ټولنيزو خدمتونو ته اړتيا لري؟

پخوا به د انسان ډېرې اړتياوې په کورنۍ او کلي کې پوره کېدلې، خو ورو ورو د ژوند د طريقو په بدلون سره د ټولو اړتياوو پوره کول د کورنۍ له توان څخه بهر شو. د دې اړتياوو د پوره کولو دنده ځانګړو ادارو ته چې د هغوی کار خلکو ته د ټولنيزو خدمتونو وړاندې کول دي، وسپارل شو.

نن همدغه اداري کوښښ کوي چې د خلکو فردي او ټولنيزې اړتياوې پوره

کړي؛ د بېلګې په توګه: خلک د تعلیمي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ښوونځیو، پوهنتونو، د ژوند د چاپېریال سمسورتیا او پاکۍ لپاره ښاروالۍ، د تلو او راتلو د نقلیه وسایطو د نظم لپاره د ترافیکو پولیس، د اړیکو ټینګولو لپاره مخابراتو، د پولي خدمتونو لپاره بانک او د درملنې لپاره روغتیایي کلینیکونو او روغتونونو ته اړتیاوې لري.

د دولت په جوړښت کې وزارتونه او ادارې وي چې د هغوی دنده په یوه ځانګړې برخه کې خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول دي؛ لکه: د پوهنې، عامې روغتیا، مخابراتو، کرنې، اقتصاد او داسې نور وزارتونه دي.

هرڅومره چې وزارتونه خلکو ته په خدمت کې بریالي وي، په هماغه اندازه هېواد پرمخ ځي او په پای کې به سوکاله، او ډاډمنه ټولنه ولرو.

فعالیت

په ډلو کې د ټولنیزو خدمتونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- پخوا به خلکو خپلې اړتیاوې څنګه پوره کولې؟

۲- د ټولنیزو خدمتونو ادارې څنګه منځ ته راغلې؟

۳- د ټولنیزو خدمتونو د څو بنسټونو نومونه واخلئ؟

کورنۍ دنده

ټولنیزو خدمتونو ته د خلکو د اړتیا په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

ښوونه او روزنه

پوښتنه

ستاسې په آند، ښوونه او روزنه څه ګټې لري؟



سالمه ښوونه او روزنه د ټولنې بنسټیزه اړتیا ده، چې انسانان ورته د نېکمرغه ژوند د تېرولو لپاره اړتیا لري. دې موخې ته د رسیدلو لپاره: وړکتونونه، ښوونځي، پوهنتونونه او داسې نور ښوونیز بنسټونه او مرکزونه جوړ شوي دي. د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه د هېواد د ښوونیزو او روزنیزو بنسټونو په سرکې دي.

ښوونځي، مدرسې، دارالمعلمینونه او داسې نور د پوهنې وزارت او پوهنتونونه

د لوړو زده کړو په وزارت پورې اړه لري. ښوونه او روزنه د هر هېواد د پرمختګ او ترقۍ بنسټ دی.

فعالیت

په ډلو کې د ښوونې او روزنې په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱-د ښوونې او روزنې او د لوړو زده کړو بنسټونه کوم دي؟

۲-ښوونځي، مدرسې او دارالمعلمینونه په کوم وزارت پورې اړه لري؟

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د ښوونې او روزنې د اهمیت په اړه څو کرښې ولیکئ.

اتم لوست

عامه روغتیا

پوښتنه

ستاسو په آند، کوم شیان د ناروغۍ لامل کېږي؟

زموږ په دولتي تشکیلاتو کې د خلکو د روغتیا ساتنې لپاره، د عامې روغتیا وزارت په نامه یو وزارت شته. دا وزارت د هېواد د ټولو خلکو د روغتیا او درملنې مسؤولیت لري. د عامې روغتیا وزارت دندې په دوو اساسي برخو وېشل کېږي: د وقایې (له ناروغیو څخه د مخنیوي) برخه. دویم د ناروغیو د درملنې برخه. د عامې روغتیا وزارت له وقایې او ناروغیو څخه د مخنیوي برخه د پولیو، چیچک، شري، تیتانوس او داسې نور واکسینونه ماشومانو ته لګوي چې ماشومان د ناروغیو پر وړاندې وقایه شي؛ ځکه چې وقایه د درملنې په نسبت آسانه او ارزانه ده.

د هېواد په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د روغتونو او کلینیکونو جوړول د عامې روغتیا د وزارت له دندو څخه دي. نن ورځ د دولتي روغتونونو ترڅنګ په هېواد کې زیات شخصي روغتونونه او کلینیکونه شته چې د خلکو روغتیایي خدمت کوي.

د هېواد د ټولو خلکو دنده ده چې د خپل ژوند د چاپېریال پاکوالي او ساتنې ته پام وکړي. په ناپاکه چاپېریال کې مچان، ماشي او میکروبونه وده او نمو کوي، چې د ډول ډول ناروغیو د پیدایښت او انتقال لامل کېږي. له دې امله موږ ټول باید خپلې جامې، کور، کوچه، ښوونځی او د خپل ژوند چاپېریال پاک وساتو؛ کثافات په یوه معلوم ځای کې راټول کړو چې په بېلابېلو ناروغیو اخته نه شو.

فعالیت

په ډلو کې د عامې روغتیا د دندو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- د ناروغیو په وړاندې خپل ځانونه څنګه وقایه کولی شو؟

٢- ماشومانو ته واکسین ولې کېږي؟

٣- موږ او تاسو د خپل کور، کوچې او ښار په پاکوالي کې څه دنده لرو؟

کورنۍ دنده

خپله روغتیا څنګه ساتلی شئ؟ په دې اړه یو مطلب ولیکئ او سبا ته یې په ټولګي کې خپلو ټولګیوالو ته ولولئ.

اوبه رسول

پوښتنه

ستاسې په آند، اوبه ولې تصفیه کوو؟

اوبه رسول یوه شبکه او دستګاه ده چې د چینو، سیندونو او د ځمکې لاندې اوبه د ځانګړو ماشینونو په واسطه په یوه ځای کې زېرمه کوي، د پاکوالي او صحي کولو څخه وروسته یې د پایپونو او نلونو په واسطه د سیمې خلکو ته توزیع کوي، زموږ د اړتیا وړ ټولې اوبه له باران یا له واورو څخه پوره کېږي چې یوه برخه یې د ځمکې لاندې زېرمه کېږي او نورې یې په سمندرونو کې تویږي. په هغو سیمو کې چې د اوبو رسولو سیستم نه شته، خلک د ځاګانو، نهرونو او یا د سیندونو له اوبو څخه ګټه اخلي.

له دې مخکې چې د سیند یا څاګانو اوبه د پایپونو یا نلونو په واسطه د کورونو منځ ته ولیږل شي، باید پاکې شي، دا کار د اوبو په تصفیه خانه کې ترسره کېږي.

اوبه له تصفیې او پاکولو وروسته د پمپ په واسطه د اوبو (ذخیرې) ته لیږل کېږي.

هغه زېرمه تون (ذخیره) چې د یوې ناحیې اوبه پوره کوي باید د یوې غونډۍ یا په اوچت ځای باندې جوړه شي چې د زېرمې اوچت والی پر اوبو دایمي فشار وارد کړي او هغه د پایپ په واسطه د کور د اوبو نل ته ورسوي.

د کورونو او کارخانو کارول شوې اوبه په معمولي ډول د صفایي لپاره، د ناپاکو

اوبو د تصفيې خــونو (تصفيه خانو) ته لېږل کېږي. وروسته بيا د پمپ په واسطه له ښار څخه بهر ته توېږي. په افغانستان کې د غيرمعياري سيپټيک څاګانو کيندل له يوې ورځې څخه بلې ته د پاکو اوبو د کثيفولو او د ښلو د صحي اوبو د کمښت لامل ګرځي. زموږ په هېواد کې د پاکو اوبو لاس ته راوړل لويه ستونزه ده چې دغه ستونزې د ماشومانو د مړينې د زياتوالي او د هغې سيمې د خلکو د ډول ډول ناروغيو لامل ګرځي.

د پاکو اوبو په برابرولو او د چټلو اوبو د ايستلو د کانالونو په جوړولو سره چې د خلکو له اړينو اړتياوو څخه ګڼل کېږي، د يو پاک چاپېريال څخه برخمن کېږو او د ډول ډول ناروغيو مخه هم نيول کېږي. موږ ته په کار دي چې له اړتيا څخه پرته اوبه له چټلې څخه وساتو او بې ځايه يې ونه لګوو.

روښانه ده چې د ښلو پاکو اوبو ته دخلکو لاس رسی يوې سالمې او روغې ټولنې ته زمينه برابروي.

فعالیت

په ډلو کې د ښلو اوبو ته د اړتيا په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- اوبه رسول څه ته وايي؟

۲- که د ښلو صحي اوبه نه وي څه راپېښيږي؟

۳- د چټلو اوبو (فاضلاب) د کانالونو نشتوالی څه زيان لري؟

کورنۍ دنده

د ښلو د صحي اوبو د ګټو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

برېښنا

پوښتنه

ستاسو په آند، برېښنا څه ګټې لري؟

برېښنا هم د الله ﷻ د لويو نعمتونو څخه ده. برېښنا د اوبو، ګاز، نفت، باد او د هستوي انرژۍ څخه توليدېږي.

د برېښنا قوه د سيم يا کېبل په واسطه نورو ځايونو ته انتقالېږي. د برېښنا قوه د برېښنا د محرکه قوې په واسطه په فلزي هادي مزو کې حرکت کوي. په مزيوکې د برېښنا جريان ته برېښنا وېل کېږي.

برېښنا ډېرې ګټې لري، يوه ګټه يې د رڼا د انرژۍ توليد او روښنايي ده. نن خلک په ورځني ژوند کې له برېښنا څخه زياتې ګټې اخلي؛ د بېلګې په توګه: د کور په وسايلو کې، لکه: يخچال، کولر، راډيو، ټلويزيون او داسې نورو کې د برېښنا له انرژۍ څخه کار اخيستل کېږي. همدارنګه، برېښنا په صنعت، سوداګرۍ، طبابت او داسې نورو کې هم ډېر اهميت لري.

د برېښنا انرژي د خلکو لپاره د کارونو د آسانتيا او سهولت لامل کېږي. د برېښنايي وسايلو ډولونه، لکه: جارو، دجامو مينځلو ماشين، د برېښنا منقل او برېښنايي داش د کورنيو کارونه آسانه کړي دي. نن د برېښنا انرژي په ژوند کې دومره رول او اهميت لري چې پرته له هغې څخه ژوند کول ډېر ستونزمن دي. که احتياط

ورسره ونه شي، برېښنا لوی خطرونه رامنځته کوي. نو د برېښنا له انرژۍ څخه سمه ګټه اخیستنه او د لاندې محافظتي ټکو رعایت کول به هېڅکله نه هیروئ:

• د لینونو د لوځېدلو په صورت کې دواړه لینونه یو له بل سره لګېږي چې د لویو اورونو د لګېدلو لامل کېږي.

•کله چې د برېښنا د لین په لوڅو ځایونو انسان ولګېږي، برېښنا یې نیسي. هرکله چې یو څوک برېښنا نیولی وي، د هغه د خلاصون لپاره باید د برېښنا جریان پرې کړو. له دې پرته له دغه سړي سره تماس زموږ په بدن کې د برېښنا د سرایت لامل کېږي.

•د برېښنا له شارټ شویو وسایلو څخه باید کار وانه خلو.

•هېڅکله د برېښنا په صندوق (جاین بکس) او لوڅو شویو او پرې شوو مزیو لاس مه وهئ.

هغو اوبو، نمجنې ځمکې او ونو ته چې د برېښنا له مزیو سره تماس ولري، مه نږدې کېږئ.

•د اوراخېستنې په وخت کې باید د برېښنا جریان قطع کړئ.

موږ باید د برېښنا له زیات لګښت څخه ځانونه وساتو چې زموږ د نورو هېوادوالو کورونه هم روښانه شي.

فعالیت

په ډلو کې د برېښنا د خطرونو څخه د ځان ساتنې په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- برېښنا څه ګټې لري؟

۲- په سیم کې د برېښنا جریان ته څه شی وایي؟

۳- برېښنا د څه شي په واسطه نورو ځایونو ته لیږدول کېږي؟

کورنۍ دنده

په کور کې له کومو برېښنايي وسایلو څخه کار اخلئ؟ په دې اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

مخابرات

پوښتنه

ستاسو په آند، له خپلو دوستانو سره په دننه او بهرکې اړیکه څنګه نیولی شو؟



مخابرات د انسانانو ترمنځ د اړیکو نیولو او نږدې کېدلو وسیله ده. له مخابراتي وسایلو څخه په استفادې سره کولی شو په لږ وخت کې د نړۍ له ېښو څخه معلومات ترلاسه کړو.

پخوا چې ټلیفون، مخابرې او نورنقلیه وسایل نه وو، خلک به له یوه ځای څخه بل ځای ته پلي تلل. لیک او خبر رسولو به له یوه ځای څخه بل ځای ته ډېر وخت نیوه. زموږ په هېواد کې تلګراف لومړنۍ مخابراتي وسیله وه چې وکارول شوه.

د عصري مخابراتي وسایلو لکه: ټلیفون، تلګراف، فکس او موبایل په منځ ته راتلو سره نن د ځوانیو په موده کې په ټوله نړۍ کې د دوستانو له احوال څخه

خبربدلی شو.

د فکس ماشین د مهمو او اړینو اسنادو په انتقال کې ډېرې اسانتیاوې را منځته کړې دي.

کمپیوټر یو مډرن ماشین دی چې د بشر زیاتې اړتیاوې پوره کولی شي. کمپیوټر هرډول معلومات په خپله حافظه کې ساتي چې د اړتیا په وخت کې ترې کار اخیستل کېږي.

فعالیت

په ډلو کې زموږ په هېواد کې د مخابراتي وسایلو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- د مخابراتي وسایلو د ډولونو نومونه واخلئ؟

٢- له کمپیوټر څخه د څه لپاره کار اخیستل کېږي؟

٣- له فکس څخه څه کار اخیستل کېږي؟

کورنۍ دنده

مخابراتي عصري وسایلو کومې اسانتیاوې را منځ ته کړې دي؟ په دې اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د ډاګ خدمتونه

پوښتنه

څه فکر کوئ، چې له یوه ځای څخه بل ځای ته لیک څنګه استولی شو؟

ډاګ(پُسته) هغه مؤسسه ده چې د خلکو لخوا د ځینو ارتباطي اړتیاوو د پوره کولو لپاره منځ ته راغلې ده. د پست له لارې کولی شو لیک، د مبارکۍ کارتونه، کتاب، ورځپاڼې او داسې نور شیان نورو خلکو ته د هېواد په دننه او بهرکې واستوو.

د دې لپاره چې زموږ لیک زموږ مطلوب شخص ته په خپل وخت ورسېږي، باید د هغه له پاسه پستي ټکټ ولګوو، د لېږدونکي او اخېستونکي آدرس د پاکټ پرشا باندې ولیکو او د ډاګ مسؤول ته یې وسپارو. په لیک باندې د پستي ټکټ لګول دا معنا لري چې مطلوب شخص او ځای ته د لیک د انتقال او رسولو کرایه مو تحویل کړې ده.

هېڅکله د لیک د پاکټ په منځ کې پیسې وانه چوی او د پیسو د لېږلو لپاره د پست مالي ادارې یا بانک ته ورشئ. که چېرته خلك له نورو خلکو سره د خپلو اړیکو ټینګولو لپاره له ډاګ څخه کار واخلي، ډېرې ستونزې به یې په آسانۍ سره حل شي.

فعالیت

په ډلو کې د ډاګ د خدمتونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- که غواړئ چې کوم ملګري ته مو چې په بل ښارکې ژوند کوي لیک واستوئ، له کومې وسیلې څخه کار اخلئ؟

۲- که وغواړئ چې لیک د ډاګ له لارې واستوئ، دا کار څنګه ترسره کوئ؟

۳- پستي ټکټ څه شی دی؟

کورنۍ دنده

د ډاګ د خدمتونو په اړه خو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

دیارلسم لوست

ټولنیزې رسنۍ

پوښتنه

ستاسو په آند، ټولنیزې رسنۍ څه اهمیت لري؟

هغه وسایل چې دنده یې خلکو ته د معلوماتو او خبرونو رسول وي، رسنۍ بلل کېږي.

ټولنیزې رسنۍ د عامه افکارو په روښانولو کې ډېر اهمیت لري. دا وسایل زیات ډولونه لري، لکه: ورځپاڼه، مجله، ټلویزیون، راډیو، کمپیوټر، انټرنیټ او داسې نور. ټولنیزې رسنۍ موږ له هر ډول پېښو څخه خبروي، د هوا حالات موږ ته راښیي، د نړۍ له علمي او ټکنالوژیکي پرمختګونو څخه مو خبروي، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ورزشي معلومات او خبرونه خلکو ته وړاندې کوي.

رسنۍ دنده لري چې پر خبر رسولو سربېره له ښوونیز، علمي، تفریحي، د خوښیو

پروګرامونه او د طبيعي او غير طبيعي پېښو په اړه خبرونه هم برابر کړي چې په دې توګه رسنۍ د عمومي ښوونو وسيلې هم دي.

بايد تل کوښښ وکړو چې له رسنيو څخه معقوله ګټه واخلو او له هغو مطالبو، تصويرونو او فلمونو څخه چې زموږ د اسلامي، اخلاقي، کلتوري او فرهنګي ارزښتونو څخه لېرې دي ځانونه وساتو.

فعاليت

په ډلو کې له رسنيو څخه د معقولې ګټې اخېستنې په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- د ټولنيزو رسنيو د وسايلو نومونه واخلئ.

٢- رسنۍ له کومو پېښو څخه موږ خبروي؟

٣- له رسنيو څخه بايد په څه ډول کار واخلو؟

کورنۍ دنده

د رسنيو د اهميت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

انټرنېټ

پوښتنه

ستاسو په آند، له انټرنېټ څخه څه ډول ګټه اخېستلای شو؟

انټرنېټ د اړیکو نیولو یوه وسیله ده چې د نړۍ کمپیوټرونه یو له بل سره نښلوي.
د کمپیوټر په واسطه هرڅوک کولای شي چې په نړۍ کې له نورو کمپیوټرونو سره اړیکې ونیسي او په هغې کې له موجودو معلوماتو څخه ګټه واخلي.
نن د انټرنېټ کارول عام شوي دي. د انټرنېټ له لارې کولای شو چې د علمي، فني، اقتصادي، سوداګریزو، فرهنګي او د وروستیو ټولنیزو اطلاعاتو او معلوماتو څخه خبرشو. د خپلې خوښې مجله او ورځپاڼه په کې ولولو.
د ایمیل له لارې هرچاته چې وغواړو لیک استولای شو او ځواب یې ترلاسه کولای شو. په انټرنېټ کې ډېر کتابتونونه شته چې له هغو څخه کولای شو د

خپلې خوښې کتابونه ترلاسه کړو.

انټرنېټ د معلوماتو د تبادلې او د علمي استفادې لویه وسیله ده. له انټرنېټ څخه مثبته ګټه اخېستل د هېوادونو په پرمختګ او د ماشومانو او ځوانانو د استعدادونو په ودې او غوړېدو کې ګټور او اغېزناک دي.

فعالیت

په ډله ییز ډول د انټرنېټ د ګټو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- انټرنېټ څه شی دی؟

۲- له انټرنېټ څخه کوم ډول معلومات لاس ته راوړلی شو؟

۳- انټرنېټ کومې اسانتیاوې منځته راوړې دي؟

کورنۍ دنده

د انټرنېټ د اسانتیاوو په اړه چې د خبرونو او معلوماتو په برخه کې یې منځته راوړي دي، په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

ترانسپورټ

پوښتنه

ستاسو په آند، مالونه د څه شي په واسطه له یوه ځایه بل ځای ته لېږدول کېږي؟

ترانسپورټ له یو ځای څخه بل ځای ته د مسافرو او مالونو لېږدولو ته وایي چې د موټر، ریل، الوتکې، بېړۍ او د پایپلاین(Pipeline) په واسطه ترسره کیږي. اوس مهال په افغانستان کې ترانسپورټي خدمتونه د ځمکې او هوا له لارې ترسره کېږي.

ځمکنی ترانسپورټ د مسافرو او مالونو د لېږد په برخه کې خدمت کوي چې شخصي، ټکسي موټرې، ښاري بسونه، د هېواد د ښارونو او کلیو ترمنځ تګ راتګ کوي.

اورګاډی (ریل): اورګاډی په ځمکني ترانسپورټ کې د مسافرینو او مالونو د لېږدولو ډېره ګړندۍ او ارزانه وسیله ده، اورګاډی د نړۍ په پر مختللو هېوادونو کې د ځمکې پر سر او د ځمکې لاندې تونلونو کې چې د میترو په نامه یادېږي هم فعالیت کوي.

د هېواد د هوایي ترانسپورټ په برخه کې اوس څلور کمپنۍ: (دآریانا افغان

هوايي شرکت، کام اير، صافي او پامير) د مسافرو مالونو او د پست په رسولو کې بوختې دي. هوايي ترانسپورټ ډېر ګړندی، سوکال او ډېر لګښت لرونکې ترانسپورټي وسيله ده چې زياتره د مسافرو، مېوه جاتو او د هغو مالونو په لېږدولو کې چې وزن يې لږ وي او ارزښت يې زيات وي کارول کېږي.

زموږ په هېواد کې د کابل نړيوال هوايي ډګر چې اوس د حامد کرزي په نامه ياديږي، د کندهار نړيوال هوايي ډګر، هرات، مزار، ننګرهار او خو نور هوايي ډګرونه د داخلي او بهرنيو سفرونو لپاره کارول کېږي.

زموږ هېواد له هرې خوا په وچې پورې نښتی دی. ځکه خو سمندري فعاليتونه په کې نه شي کېدای. خو يوازې د هېواد له ځينو سيندونو څخه په سيمه ييزه کچه د کوچنيو بېړيو په چلولو کې کار اخلي.

فعاليت

په ډله ييز ډول د ځمکني او هوايي ترانسپورټ د ګټو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- زموږ په هېواد کې څو ډوله ترانسپورټونه دي؟ نومونه يې واخلئ.
۲- له هوايي ترانسپورټ څخه زياتره د کومو مالونو په لېږدولو کې کار اخېستل کېږي؟
۳- زموږ په هېواد کې سمندري ټرانسپورټ ولې نشته؟

کورنۍ دنده

د ترانسپورټ د ګټو په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

ښاروالي

پوښتنه

څه فکر کوئ، موږ د خپل ښار په پاکوالي او سمسورتیا کې څه مسؤولیت لرو؟

ښاروالي د دولت يوه مهمه اداره ده چې په مرکز، ولايتونو او ولسواليو کې فعاليت کوي. ښاروالۍ ډول ډول دندې لري چې مهمې يې دا دي:

- په ښارونو کې د واټونو پخول او د تم ځايونو جوړول.
- د پارکونو او تفريحي ځايونو جوړول.
- د مارکېټونو او راکړې ورکړې د چارو تنظيمول.
- د ښار د سمسورتيا لپاره په غونډيو کې د بوټو او نيالګيو کېنول.
- د ښار د سړکونو او کوڅو پاکول.
- له بار وړونکو لاريو، کورونو، د وکانونو او ښاريانو څخه د صفايي محصول اخيستل.

همدارنګه، په ولايتونو او ولسواليو کې په ښاروالۍ پورې تړلې ټولې چارې د

ښاروالۍ لخوا پرمخ ځي، خو په لويو ښارونو کې د ځای د پراخوالي له امله، هره ښاروالي په ناحيو وېشل شوې ده چې هره ناحيه د خپلې سيمې اړوندې چارې سرته رسوي.

که څه هم په ښارونو کې د سمسورتيا او پاکوالي دنده د ښاروالۍ ده،خو بيا هم خلک بايد د ښارونو په سمسورتيا، د سړکونو او کوڅو په پاکوالي او د ماليې او صفايي په ورکړه کې له ښاروالۍ سره مرسته وکړي. زموږ دنده ده چې د خپلو کورونو کثافات او اضافه توکي په هغو کثافت دانيو کې چې د ښاروالۍ لخوا په ټاکلو ځايونو کې اېښودل شوي دي، واچوو. په پارکونو کې د تفريح په وخت چمنونه په پښو سره چيت او خراب نه کړو. همدارنګه، د ونو او ګلانو ښاخونه مات نه کړو، بلکې هغه وساتو او د خپل ښار په سمسورتيا کې نورهم زيار وباسو.

فعاليت

په څو ډلو ووېشل شئ او د ښاروالۍ د دندو په اړه له يو بل سره خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د ښاروالۍ مهمې دندې کومې دي؟

۲- ښاري کثافت دانۍ د څه شي لپاره دي؟

۳-د خپل کور خځلې چېرته بايد واچوو؟

کورنۍ دنده

د ښار په سمسورتيا او پاکوالي کې د ښاروالۍ د دندو او خلکو د مسؤوليت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

پولیس

پوښتنه

ستاسو په آند، پولیس کومې دندې لري؟

پولیس دنده لري چې په هېواد کې نظم او امن ټینګ کړي، چې خلک د سولې او آرامۍ په فضا کې خپل ژوند وکړي.

څنګه چې پوهېږو، خلک له هرڅه زیات نظم او امن ته اړتیا لري، د پولیسو دنده دا ده چې کوم کسان قوانینو او مقرراتو ته درناوی نه کوي، د خلکو نظم او امن ګډوډوي او د ټولنیزو اخلاقو پر خلاف کارونه، لکه: غلا، بډې اخېستل، اختلاس، د ځمکو غصب، قاچاق او داسې نور ترسره کوي، ویې نیسي او د قانون منګولو ته یې وسپاري.

پولیس د خلکو د سوکالۍ او امن په خاطر ډېرې نورې دندې هم لري چې ځینې یې دا دي:

- د خلکو د ځان او مال ساتنه.

- د دولتي ادارو او عامه تأسیساتو ساتنه.

- د بهرنیو مؤسسو او سفارتونو ساتنه.

- د مواصلاتي لارو ساتنه.

موږ باید د سولې او امنیت د ټینګښت او د غوره ژوندانه لپاره هر وخت او په هر ځای له پولیسو سره مرسته وکړو او د خپل ځان، کورنۍ او هېواد پر وړاندې خپل مسؤولیت ترسره کړو. همدارنګه، د هغوی د اړوندو ادارو د تیلفون شمېرې ولرو چې د اړتیا په وخت کې ورته زنګ ووهو.

فعالیت

په ښځه کسیزو ډلو کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

لومړۍ ډله: پولیس څه دنده لري؟

دویمه ډله: پولیس کوم ډول خلک ښاري او نیسي یې؟

ځواب ورکړئ

١- پولیس د کومو جرمونو مخه نیسي؟

٢- د پولیسو دندې بیان کړئ؟

٣- خلک د پولیسو په وړاندې کوم مسؤولیتونه لري؟

کورنۍ دنده

که تاسو پولیس یاست، کوم کارونه به کوئ؟ په دې اړه یو مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ترافیک پولیس

پوښتنه

ستاسو په آند، ترافیک پولیس څه دنده لري؟

ترافیک پولیس د خلکو د خدمت او په ټولنه کې د نظم د راوستلو لپاره منځته راغلي دي.

د ترافیکو اداره د پلیو لارویانو او نقلیه وسایلو د تلو راتلو د څارنې مسؤولیت پر غاړه لري او په ښارونو کې د نظم د راوستلو لپاره بېلابېلې دندې ترسره کوي، لکه:

-په څلور لارو کې د ترافیکي څراغونو روښانه کول، چې موټر په وارسره تېر شي.

-چلوونکي چې د ترافیکي مقرراتو څخه سرغړوی، جریمه کوي یې او ترافیکي پېښو ته ځانونه رسوي. خلک هم دنده لري چې د ترافیک پولیسو سره مرسته

وکړي. همدارنګه، له ترافیکي مقرراتو سره بلدشي او هغو ته درناوی وکړي.

ترافیکي څراغونو او د پلیو تلونکو اړوندو مقرراتو او نښو ته پام وکړي او له امنیتي کمربندونو څخه کار واخلي. څرنګه چې په کلیو کې لږ خلک اوسیږي، نقلیه ماشیني وسایل ستونزې نه پیدا کوي، په ښارونو کې د نقلیه وسایطو زیاتوالی او د هغوی تلل راتلل د خلکو لپاره ستونزې پیدا کوي.

که ترافیکي مقررات او لارښوونې مراعات نه شي، ډېر خطرونه او ستونزې رامنځته کیږي.

فعالیت

په اووه کسیزو ډلو کې د ترافیک پولیسو د دندو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د ترافیک پولیسو درې ډوله دندې چې سرته یې رسوي، بیان کړئ.

۲- د ترافیک پولیسو اداره د څه لپاره رامنځته شوې ده؟

۳- د ترافیک پولیسو په وړاندې زموږ څه دنده ده؟

کورنۍ دنده

د ترافیک پولیسو ادارې ته د اړتیا په اړه څوکرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

دریم څپرکی

کرنه

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د کرنې په هکله معلومات ترلاسه کړي.
- له حبوباتو سره آشنا شي.
- صنعتي او طبي نباتات و پېژني.
- غلې او پلي لرونکي نباتات سره بېل کړای شي.
- د مېوو او سبو په ګټو پوه او ورسره مینه پیدا کړي.
- د کرنې او کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي سره مینه پیدا کړي.

نولسم لوست

کرنه

پوښتنه: ستاسو په آند، د کرنې تولیداتو ته وده څنګه ورکولی شو؟

افغانستان یو کرنیز هېواد دی اکثره خلک یې له پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې په کښت او کرنه بوخت دي. د هېواد کابو $\frac{۱}{۵}$ برخه کرنیزو ځمکو نیولې ده. خو د کیمیاوي سرو او مرضونو ضد درملونو لږ کارول، د کرنې زوړ سیستم کارول، د اوبو د بندونو د نشتوالي او د اصلاح شوو زراعتي تخمونو د لږو کارولو له امله حاصلات لږ دي.

د پورتنیو لاملونو د لیرې کولو او د شاړو ځمکو د کرنې لپاره د اوبو د بندونو

او ويالو جوړول، دکرنيز و ماشين آلاتو او له هغو اصلاح شوو تخمونو څخه ګټه اخېستل چې زموږ د هېواد له اقليم سره برابر وي، د حيواني او کيمياوي سرو کارول، د بزګرانو د اتحاديو جوړول، له نباتي ناروغيو سره مجادله، او د هېواد په کرنيزو چارو کې د دولت په ملاتړ سره به موږ د ښې کرنې څښتنان شو.

فعاليت

په ډلو کې د لاندې چوکاټ تش ځايونه په خپلو کتابچو کې په ځير سره ډک کړئ.

څرنګه کولای شو چې کرنيزې چارې جوړې او حاصلات زيات کړو؟

د ماشين الاتو څخه ګټه اخېستل.	د اصلاح شوو تخمونو کارول.	د اوبو لګولو د چارو سمون او د ويالو او بندونو جوړول.			؟

ځواب ورکړئ

۱- کوم کارونه دکرنې د ښه والي سبب کېږي؟

۲- کوم شيان، زموږ په هېواد کې دکرنې د حاصلاتو د لړوالي سبب کېږي؟

۳- د اوبو د بندونو جوړول په کرنه کې څه ګټه لري؟

کورنۍ دنده

ستاسو په سيمه کې کومې غلې کرل کېږي؟ د هغو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

حبوبات

پوښتنه

ستاسو په سمیه کې کوم ډول غلې کرل کېږي؟

زموږ د هېواد ښه او مناسبه هوا د هر ډول حبوباتو د کرلو لپاره برابره ده چې ځینې یې دلته یادوو.

الف) غلې

غنم: غنم زموږ د هېواد د خلکو اساسي خواړه جوړوي او په دوه ډول کرل کېږي، یو یې اوبیز او بل یې للمي غنم دي.

-**غنم**: په عام ډول دکال پر دوو وختونو کې کرل کېږي، یویې د مني غنم او بل یې پسرلني غنم چې دسیندونو، کاریزونو او چینو په اوبو خړوبېږي او له وښو څخه یې د څارویو د خوړو لپاره ګټه اخیستل کېږي.

-**للمي غنم**: للمي غنم د پسرلي په موسم کې د غرونو په لمنو، غونډیو او دښتو کې کرل کېږي.

جوار: جوار زموږ په هېواد کې له غنمو څخه وروسته په دویمه درجه کرل او مصرفېږي. چې له دانو څخه یې د انسانانو د خوړو، غوړو او له پاڼو او ټانټو څخه یې د څارویو د خوړو لپاره ګټه اخیستل کېږي.

شولې (وریجې): د خلکو د خوړو مهمه برخه ده او زموږ په هېواد کې دوه ډوله وریجې کارول کېږي. یو ډول یې نرۍ وریجې او بل یې غټې وریجې دي.

وربشې: په افغانستان کې ډول ډول وربشې د انسانانو او څارویو د خوړولو لپاره کرل کېږي.

ب) پلي لرونکي نباتات

له لوبیا، نخود، مې، نسک، باقلي، مشنګ، کلول، شاخل او داسې نور پلي لرونکي نباتات دي چې زموږ د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې کرل کېږي.

لوبیا، سویا، نخود، نسک، مې، باقلي او مشنګ یې ډېر پروټین لري او زموږ خلک له هغه څخه د خوړو په توګه کار اخلي. کلول او شاخل په عمومي ډول څارویو ته ورکول کېږي.

فعالیت

په ډلو کې له حبوباتو څخه د ګټې اخیستنې په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د غلو د ډولونو نومونه واخلئ.

۲- د پلي لرونکو نباتاتو د ډولونو نومونه واخلئ.

۳- ستاسو په سیمه کې غنم په کوم موسم کې کرل کېږي؟

کورنۍ دنده

هغه حبوبات چې ستاسو په سیمه کې کرل کېږي، په خپلو کتابچو کې یې نومونه ولیکئ.

صنعتي او طبي نباتات

پوښتنه

ستاسو په آند کومو نباتاتو ته صنعتي نباتات وايي؟

زموږ په هېواد کې پر غلو سربېره، صنعتي بوټي، لکه: پومبه، چغندر، گني او داسې نور هم کرل کېږي چې په صنایعو کې د اومو توکو په توگه مصرفېږي.

پومبه: پومبه له ډېر پخوا زمانو څخه زموږ په هېواد کې کرل کېږي او د جامو لپاره ورڅخه گټه اخيستل کېږي. د پومبې کښت گرمې هوا او ډېرو او بو ته اړتیا لري. زموږ په هېواد کې پومبه د کندز، بغلان، تخار او بلخ په ولایتونو کې ډېره او د کاپیسا او ننگرهار ولایتونو کې په لږه اندازه چې د سیمې د خلکو اړتیاوې پوره کوي کرل کېږي.

چغندر: چغندر هم د افغانستان له پخوانیو نباتاتو څخه د چې د پومبې په څېر تودې هوا ته اړتیا لري. تر هغه مهال چې د بغلان د قندو فابریکه جوړه شوې نه وه، چغندر زموږ په هېواد کې په لږه اندازه کرل کېدل، خو د بغلان د قندو فابریکې د کار په پیلدو سره د قند لرونکو چغندرو کښت د کندز او بغلان په ولایتونو کې زیات شو.

گني: د گنيو اصلي ټاټوبی هندوستان دی. گني قندي مواد لري چې بوره ورڅخه جوړېږي او په هغه ځمکه کې چې توده او نمجنه هوا او ډېرې اوبه ولري ښه حاصل ورکوي. د گنيو د کرلو لپاره هغه سيمې چې تود او نمجن اقليم لري لکه ننگرهار، کونړ، بغلان ولايتونه مناسب دي.

دافغانستان طبي نباتات: زموږ گران هېواد افغانستان چې په معتدله سيمه کې پروت دی، زيات طبي بوټي يې په بېلابېلو سيمو کې راشنه کېږي چې څه نا څه يې د هېواد په د ننه کې د خلکو له خوا په دوديز طبابت کې کارول کېږي،لکه: سپيرکی، باديان، زرشک، د بابوني گل، زوف، سپيغول او داسې نور او د دې طبي بوټو يو څه برخه،لکه: خوږه وله، زعفران، زيره او نور له هېواد څخه بهر ته صادرېږي. تېل لرونکي نباتات، لکه: کونځلې، شړشم، زغر او نور هم زموږ په هېواد کې کرل کېږي.

فعاليت

په ډلوکې د لوست په مهمو ټکو باندې بحث وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- پومبه د هېواد په کومو ولايتونو کې ډېره کرل کېږي؟

۲- د جغندرو او گنيو د کښت سيمې معرفي کړئ؟

۳- د هېواد کوم طبي بوټي بهر ته صادرېږي؟

کورنۍ دنده

د صنعتي نباتاتو د گټو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

میوې

پوښتنه

ستاسو په فکر، مېوې د انسان بدن ته څه ګټې لري؟

زموږ د هېواد هوا باغدارۍ ته برابره ده. زموږ زیاتره خلک په باغدارۍ بوخت دي. مېوې د ویټامینونو او منرالونو سرچینه ده او په هېواد کې د کرنیزو مهمو تولیداتو له جملې څخه شمېرل کېږي. د افغانستان مشهورې مېوې انګور، منې، ناک، انار، آلو، آلوبالو، شفتالو، آلوبخارا، ګیلاس، توت، شاه توت، بادام، پسته، جلغوزي، انځر، زیتون، زردآلو، بهي، سنځلې، عناب، خټکي، هندوانې، نارنج، لیمو، مالټې، سنترې، کینو او داسې نورې دي.

هرکال یوه زیاته اندازه وچې او تازه مېوې چې د جنس، خوند او ډولونو له اړخه نړۍ کې بې ساري دي بهرته صادرېږي.

د نیالګیو کینول، د مېوه لرونکو ونو او باغونو ښه مراقبت او ساتنه د ښوالۍ د

تولیداتو د ودې او د ژوندانه د ښه ښیرازه چاپېریال او د پاکې هوا د منځ ته راتګ سبب کېږي.

فعالیت

په ډلوکې دهغو مېوو د ډولونو په اړه چې زموږ په هېواد کې پیدا کېږي، بحث وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- کومې مېوې له هېواد څخه بهرته صادرېږي؟

٢- مېوې د کومو شیانو سرچینه ده؟

٣- د باغونو ښه ساتل څه ګټه لري؟

کورنۍ دنده

ستاسو په سیمه کې چې د مېو و کوم ډولونه شته، په خپلو کتابچو کې یې نومونه ولیکئ.

سابه

پوښتنه

فکر وکړئ، ستاسو په سیمه کې کوم ډول سابه کرل کیږي؟

د افغانستان هوا د سبو کرلو لپاره مناسبه ده. سابه د میوو په څېر د ویټامینونو او منرالونو سرچینه ده چې کچالو، توربانجان، رومیان، ګازرې، ټیپر، ملۍ، پیاز، هوګه، لبلبو، کدو، بادرنګ، ترایي، کرم، ګلپي، بینډۍ، کاهو، مرچک او داسې نور یې شامل دي، په افغانستان کې کرل کیږي او زموږ خلک په ورځنیو خوړو کې ور څخه ګټه اخلي. د یادونې وړ ده چې د شفتل او رشقې کرل هم زموږ په هېواد کې دود دي او په عمومي ډول د څارویو د خوراک لپاره هم تازه او هم وچ (دبېدې په شکل) کارول کیږي. شفتل او رشقه له هوا څخه

نایټروجن اخلي، د ریښو په واسطه یې ځمکې ته ورکوي چې په دې ترتیب سره ځمکې ته قوت ورکوي او د راتلونکي کال لپاره یې کرلو ته چمتو کوي.

مور او تاسو باید هره ورځ له خامو او پخو سبو څخه ډېره ګټه واخلو؛ ځکه چې سابه د ویټامینونو او منرالونو سرچینه ده او زموږ د بدن د روغتیا او سلامتۍ لپاره ډېر ګټور دي.

فعالیت

د سبو د اقتصادي او حیاتي اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- سابه د کومو شیانو سرچینه ده؟

۲- د سبو د ډولونو نمونه واخلئ.

۳- کوم سابه پاخه خوړل کېږي؟ نمونه یې واخلئ.

۴- د شفتل او رشقې کرل د کرنیزو ځمکو لپاره څه ګټه لري؟

کورنۍ دنده

د هغو سبو ډولونه لست کړئ چې ستاسو په سیمه کې کرل کېږي او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

څلورم څپرکی

مال ساتنه

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د مالدارۍ په ارزښت او مفهوم پوه شي.
- د پسونو او غوییانو د روزنې او ساتنې په هدف پوه شي.
- د آسونو او اوښانو ګټه اخېستنه تشریح کړای شي.
- د چرګانو او کبانو د فارمونو د ودې او پراختیا سره مینه پیدا کړي.

څلور ویشتم لوست

مال ساتنه

پوښتنه: ستاسو په فکر، په افغانستان کې څو ډوله اهلي څاروي روزل کېږي؟

زموږ په هېواد افغانستان کې ډول ډول وحشي او اهلي څاروي ژوند کوي. اهلي څاروي، لکه: غوايي، اوښان، آسونه، وزې، قچرې، خره، غژګاو او داسې نور دي. وحشي څاروي، لکه: زمری، پړانګ، سورلنډی، شرمښ، غرڅه، هوسۍ، ګیدړ، سوی، بیزو، یګه، شکونړ او داسې نور دي.

همدارنګه، زموږ په هېواد کې کورني مرغان، لکه: چرګان، هیلۍ، فیل مرغ، کوترې او داسې نور ډېر دي ، صحرايي مرغان، لکه: زرکان، صحرايي چرګان،

چنچڼې، سیسی، زاڼې، صحرایي هېلۍ، بلبل، کارغه، باز، باښه، عقاب، ټپوس او داسې نور شته.

اهلي ځاروي په کرنیزو چارو، د مالونو په لېږد رالېږد، د کورنیو د اقتصاد د لوړوالي، د غوښو او لبنیاتو، لکه: شیدو، مستو، کوچو، غوړیو، شړومبو، پنیر او داسې نورو ګټو لپاره ساتل کېږي.

فعالیت

د اهلي او وحشي ځارویو د اهمیت په اړه په ډلو کې سره خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- ستاسو په سیمه کې کوم ډول اهلي ځاروي روزل کېږي؟ نومونه یې واخلئ.

۲- تاسو چې په کومه سیمه کې ژوند کوئ، د هغې په غرونو او دښتو کې کوم ډول وحشي ځاروي پیدا کېږي؟

۳- کورني او صحرایي مرغان یو له بل سره څه توپیر لري؟

کورنۍ دنده

ستاسې په سیمه کې چې کوم صحرایي او کورني ځاروي ژوند کوي، نومونه یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

پسونه

پوښتنه

څه فکرکوئ، ستاسو په سیمه کې څو ډوله پسونه موجود دي؟

د افغانستان اوبه هوا او ځمکه د پسونو د روزنې لپاره ډېره مناسب ده. له همدې امله، د افغانستان خلک پر کرنې سربېره مالونه هم ساتي. زموږ کوچي هېوادوال د خارویو، په ساتلو بوخت دی. په ژمي کې تودو سیمو او په اوړي کې سړو سیمو ته ځي. زموږ په هېواد کې بېلابېل سیمه ییز پسونه، لکه: قره قل، هزاره ګي، بلوچي، ترکي (قطغني)، هراتي، بادغیسي، کندهاري او داسې نور روزل کېږي.

په افغانستان کې د پسونو روزل او ساتل ډېر اقتصادي او سوداګريز تجارتي ارزښت لري. د پسونو له غوښو، شیدو، پنیرو، مستو چې د ویټامینونو پروټینونو مهمه سرچینه ده، ډېره ګټه اخیستل کېږي.

له وړیو څخه یې غالۍ، ټغر، شړۍ، دستکشې، جورابې، وړین ټوکران او لمڅي جوړیږي او ځینې یې بهرته هم استول کیږي، د قره قل پوستکي زموږ د هېواد مهم صادراتي توکي دي. وړۍ، پوستکي او کولمې یې هم بهرته استول کیږي. د هېواد په غرنیو سیمو کې وزې ډېرې روزل کیږي چې د هغوی له غوښو، وژغښو، شیدو او مستو څخه یې ګټه اخیستل کیږي.

د پسونو په روزلو کې باید تل د تجربه لرونکو کسانو او وترنرانو له مشورو څخه ګټه واخیستل شي.

په بهرنیو هېوادونو کې پسونه په فارمونو کې ساتل کیږي. دغه طریقه باید زموږ په هېواد کې هم دود شي.

فعالیت

په ډلو کې د وزو او پسونو د اهمیت په اړه بحث وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- لبنیات چې د ویټامینونو او پروټینونو سرچینه ده، نوم‌ونه واخلئ؟

۲- د وزو او پسونو اقتصادي اهمیت بیان کړئ؟

۳- که پسونه مو ناروغ شي، څه باید وکړو؟

کورنۍ دنده

د وزو او پسونو د غذایي ارزښت په اړه په خپلو کتابچو کې یوه لنډه مقاله ولیکئ.

غوايي

پوښتنه

ستاسو په آند، د غواوو او غوايانو ساتل په کورني اقتصاد کې څه اهميت لري؟

غواوې او غوايي د کورنيو ژويو له ډلې څخه دي چې خلک يې په کورونو او فارمونو کې ساتي. له غويانو څخه په قلبه کولو، د مالونو په لېږد رالېږد او غوښو څخه يې ګټه اخيستل کيږي. او همدا راز د غواوو له غوښو، شيدو او مستو څخه په خوراکي توکو کې ګټه اخېستل کيږي.

غوايي بېلابېل ډولونه لري، لکه کوپي لرونکي غوايي، چې د هېواد په سهيل ختيځو او سهيل لوېديځو سيمو کې روزل کيږي. مېښې د هېواد په ختيځو او

سهيلي سيمو او غژګاو په شمال ختيځو سيمو لکه د بدخشان (پامير) کې روزل کېږي.

غوايي د کورنيو په اقتصاد کې ډېر اهميت لري، ځکه خو لازم دي چې په ټاکلي وخت هغو ته اوبه او واښه ورکړل شي او هم يې د استوګنې ځای هره ورځ پاک او وچ کړو او کله چې ناروغ شي بايد روغتيايي کتنځي ته يې بوځو. همدا راز، د هغوی اصلاح شوي نسلونه بايد په فارمونو کې وساتل شي.

فعاليت

په ډلو کې د غوايانو د اقتصادي اهميت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١-غوايان د کومو موخو لپاره ساتل کېږي؟

٢-کوپي لرونکي غوايان د هېواد په کومو سيمو کې ساتل کېږي؟

٣- غژګاو د هېواد په کومو سيمو کې روزل کېږي؟

کورنۍ دنده

د غوايانو د اقتصادي اهميت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

آس

پوښتنه

څه فکر کوئ، ستاسو په سیمه کې آسونه د څه لپاره روزل کېږي؟

آریایان لومړني خلک وو چې آس یې اهلي کړ. په عمومي توګه زموږ په هېواد کې درې جنسه آسونه شته دي.

۱- قطغني آسونه: ډېر د بغلان، تخار، کندز، فاریاب، سرپل، جوزجان او بلخ په ولایتونوکې روزل کېږي چې متوسط او برابر اندام، چټک رفتار او تېز مزاج لري.

۲- ترکمني آسونه: ډېر د مزارشریف او قطغن په سیموکې پیداکېږي او د قطغني آسونو په پرتله غټ او جګ دي.

۳- هراتي آسونه: یوازې د سورلۍ لپاره دی چې ښه برابر اندام او ښه رفتار لري، خو د قطغني آسونو په پرتله چټک او تند خویه نه دي. ملا، نس، پښې او غاړه یې

اوړده ده.

له آسونه ښخه په سورلۍ، وزلوبه، ګاډۍ او نیزه وهلو کې ګټه اخیستل کیږي، خو هغه آسونه چې د مالونو په لیږد را لیږد کې ورځخه کار اخیستل کیږی، یابو ورته ویل کیږي.

آسونو ته باید په جګو آخورونو کې وابنه واچول شي، د ساتلو ځای یې پاک وي او همدا راز، یې د روزنې او د نسل د ښه والي لپاره له تجربه لرونکو خلکو او ترنرانو سره مشوره وشي؛ د آسونو نعلونو ته هم باید تل پام وشي.

فعالیت

په ډلو کې د آسونو د اهمیت په اړه بحث وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- زموږ په هیواد کې د آسونو څو جنسه شته؟

٢- قطغني آسونه زموږ د هیواد په کومو ولایتونو کې ساتل کیږي؟

٣- له هراتي آسونو څخه د څه لپاره کار اخیستل کیږي؟

کورنۍ دنده

د وزلوبې په اړه یو مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

اوښ

پوښتنه

څه فکر کوئ، له اوښ څخه څه کار اخېستل کېږي؟

اوښان اهلي څاروي دي چې په افغانستان کې له پخوا زمانو څخه د سوداګريزو مالونو د لېږد را لېږد لپاره ساتل کېږي. په افغانستان کې دوه ډوله اوښان (يوکوپي او دوه کوپي) موجود دي. يو کوپي اوښ ته عربي اوښ هم وايي له دوه کوپي اوښ څخه ګړندی دی او په ډېرو ځايونوکې ورڅخه کار اخيستل کېږي.

دوه کوپيز اوښ ته بلخي اوښ هم وايي او له يو کوپيز اوښ څخه پياوړی دی.

څرنګه چې اوښ د اوبو او خوراک پر وړاندې ډېر مقاومت لري، نو د صحرايي بېړۍ په نامه هم يادېږي. کوم وخت چې سوداګريزو کاروانونو د ورېښمو د مشهورې لارې

د چین او هند تر منځ د افغانستان له لارې څخه د اروپا خواته تګ راتګ کاوه. له اوښانو څخه به کار اخېستل کېده، خو نن د لېږد رالېږد د ماشیني وسایطو د پېروالي له امله د هغو اهمیت کم شوی دی او یوازې کوچیان ورڅخه د مالونو په لېږد رالېږد کې کار اخلي او له وړیو، غوښو او شیدو څخه یې هم ګټه اخېستل کېږي.

د اوښانو د نسل د زیاتوالي لپاره د ښه نسل رواجول او د هغو د ساتلو طریقه اړینه ده، چې تل له تجربه لرونکو خلکو او د حیواني کلینیکونو د ډاکټرانو له لارښوونو څخه ګټه واخیستل شي.

فعالیت

په ډلو کې د اوښانو د اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- په افغانستان کې څو ډوله اوښان شته دي؟

۲- له اوښانو څخه څه ګټې اخیستل کېږي؟

۳- اوښ ته ولې صحرایي بېړۍ وایي؟

کورنۍ دنده

د اوښانو د اقتصادي او غذايي اهمیت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د چرګانو فارم

پوښتنه

ستاسو په آند، د چرګانو د ساتلو په اړه څه ویلای شئ؟

چرګ کورنی مارغه دی چې له پخوا څخه زموږ په هېواد کې ساتل کېږي. خلک چرګان د هګیو او غوښو لپاره روزي او ساتي يې. د چرګانو غوښې او هګۍ، د پروټین او راز راز ويټامینونو لرونکي دي چې د انسان د روغتیا لپاره ډېر ګټور دي. په افغانستان کې چرګان په کورونو او فارمونو کې ساتل او روزل کېږي. له غوښو او هګیو څخه يې د هېواد په دننه کې ګټه اخیستل کېږي او بهرته هم صادرېږي چې له دې څخه ډېره ګټه لاسته راځي. چرګان دوه ډوله دي: يو ډول يې د هګیو لپاره، او بل ډول يې د غوښو لپاره روزل کېږي. هغه چرګان چې په کورونو کې ساتل کېږي د کورنیو چرګانو په نامه یادېږي چې ښکلي

او ډول ډول رنګونه لري. هغه چرګان چې په فارمونوکې روزل کېږي زیاتره يې سپين دي. د چرګانو روزل او ساتل د کورنيو او هېواد د اقتصاد په پياوړتيا کې ښه رول لري. له دې کبله بايد د چرګانو روزلو ته پام وشي. د هغو دانه او اوبه بايد پاک وي. همدارنګه، د اوسيدو مناسب ځای ولري او تل په کې د ناروغيو ضد درمل وشيندل شي، په خپل وخت سره واکسين شي، چې ناروغه نه شي. د چرګانو د ساتلو او روزلو لپاره بايد له وترنرانو او تجربه لرونکو خلکو سره مشورې وشي. موږ بايد د چرګانو ساتلو او روزلو ته پام وکړو او د چرګانو د فارمونو په پراخولو او رواجولوکې زيار و باسو.

فعاليت

په ډلو کې د چرګانو دګټو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- د چرګانو د فارمونو جوړول څه ګټې لري؟

٢- چرګان څو ډوله دي؟

٣-له چرګانو څخه ساتنه او څارنه څنګه وکړو؟

کورنۍ دنده

د چرګانو د فارمونو د اقتصادي اهميت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچوکې وليکئ.

د کبانو فارم

پوښتنه

څه فکر کوئ، زموږ په هېواد کې د کبانو د روزلو فارمونه شته دي؟

کبان د سړې وینې لرونکو حیواناتو له ډلې څخه دي چې د اوبو په خاص چاپېریال، لکه: یخو، تودو، تروو او خوږو اوبو کې ژوند کوي. کبان په آزاد ډول په اوبیز چاپېریال، لکه: په سمندرونو، سیندونو، جهیلونو او نورو کې هم ژوند کوي. څرنگه چې د کبانو غوښې ډېر اهمیت لري د هغوی په روزلو کې ډېر بدلونونه راغلي دي. اوس کبان په فارمونو کې هم روزل کېږي. زموږ د هېواد په سیندونو او جهیلونو کې هم راز راز کبان، لکه: شیرماهي، لقه ماهي، خالداره ماهي او نور ژوند کوي.

په درونټې، سروبي، کجکي، کوکچې او نورو کې د برېښنا د بندونو پروژې نه یوازې د برېښنا د تولید لپاره بلکې د نورو زیاتو بېلابېلو موخو لپاره جوړشوي دي چې له هغو څخه د کبانو روزنه هم ده.

په دې وروستیو وختونو کې د کرنې وزارت او مسلکي خلکو په مرسته د کبانو د

روزنې په برخه کې کوښښ روان دی. د کبانو د روزنې فارمونو ته د هېواد په ختيځو شمالي او جنوب لويديځو ولايتونو کې په بېلو بېلو کچو پراختيا ورکړشوې ده چې شمېر يې (۳۵۰)فارمونو ته رسيږي او کلنۍ توليدات يې نږدې (۱۵۰۰) ټنه دي. دا فارمونه د خلکو د اړتيا وړ حيواني پروټينونو لپاره بسنه نه کوي. پخوا به يوازې په سيندونو کې کبان نيول کېدل، خو اوس ډېر کبان له فارمونو څخه لاس ته راځي.

د کب غوښه د سپينو غوښو له ډول څخه ده چې د بدن د اړتيا وړ پروتين، ويټامينونه، او مالګې لري. غوړ او کلسترول يې لږ دي. څرنګه چې د کبانو روزل د خلکو په اقتصاد کې ډېر اهميت لري، نو له دې کبله لازمه ده چې زموږ په هېواد کې د کبانو فارمونو ته ډېره وده ورکړشي ترڅو له يوې خوا خلکو ته د کار زمينه برابره شي او له بلې خوا د فارم لرونکو اقتصاد پياوړی شي.

فعاليت

په ډلو کې د کبانو د غوښو د اهميت او د کبانو د ډولونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- کبان په کومو اوبو کې ژوند کولای شي؟

۲-په هېواد کې د کبانو د ډولونو نومونه واخلئ؟

۳- د کبانو غذايي اهميت بيان کړئ؟

کورنۍ دنده

د کبانو د اقتصادي اهميت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

پنځم څپرکی

صنعت

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د صنايعو په ارزښت پوه شي.
- د غاليو د اوبدلو په اقتصادي اهميت پوه شي.
- خامک ګنډنه او د څرمنو صنايع تشريح کړای شي.
- د تولنې په پرمختګ کې د سمنټو د توليد، د سپکو صنايعو، د تورو او رنګه صنايعو، د حجارۍ او ترکانۍ د کارخانو اهميت تشريح کړای شي.
- د صنعت له پرمختګ او پراختيا سره يې مينه او علاقه زياته شي.

يو ديرشم لوست

د صنايعو اهميت

پوښتنه: ستاسو په فکر، صنايع څه اهميت لري؟

صنعت يو توليدي فعاليت دی چې د لاس او يا ماشين په واسطه ترسره کېږي چې موخه يې د خلکو د اړتياوو د پوره کولو لپاره له اومو او لومړنيو توکو څخه د مالونو او شيانو جوړول دي، لکه: کانې، کرنيز، مالداري او کيمياوي توکي.

د صنايعو، په ځانګړې توګه د ماشيني صنايعو اهميت په دې کې دی چې په لږ وخت کې د زياتو اومو موادو شکل بدلوي او کيفيت او ارزښت يې پورته

کوي.

زموږ خلک له پخوا څخه په کوچنيو دستګاوو کې د لاسي صنايعو په توليداتو کې بوخت دي. ډول ډول فرشونه، جامې او د اړتياوړ شيان، لکه: غالۍ، ليمڅي، ټغراو داسې نور شيان جوړوي.

زموږ په هيواد کې د ډېرو کانونو، ډول ډول کرنيزو حاصلاتو، مالدارۍ او ډېرې بشري قوې له شتون کيداى شي چې د صنايعو د منځ ته راتګ او پرمختګ لپاره ښې زمينې برابرې شي.

دولت هم بايد د ملي صنايعو د منځته راتګ او ودې لپاره اسانتياوې برابرې کړي، چې زموږ خلک په کار بوخت شي او زياته اندازه اړين توکي په هيواد کې توليد شي.

فعاليت

په ډلو کې د ماشيني صنايعو د اهميت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- صنعت تعريف کړئ؟

۲- د ماشيني صنايعو اهميت بيان کړئ؟

۳- اومه صنعتي توکي څه ته وايي؟

کورنۍ دنده

د هغو صنعتي توکو د ډولونو نومونه، چې ستاسو په سيمه کې توليديږي، په خپلو کتابچو کې وليکئ.

لاسي صنايع

پوښتنه

څه فکر کوئ، لاسي صنايع د کورنيو په اقتصاد کې څه اهميت لري؟

هغه صنايع چې په هغې کې د انسان له لاسي مهارت او وړو او ساده ماشينونو څخه کار اخېستل کيږي، لاسي صنايع بلل کيږي چې هغه نساجي صنعت، د ګنډلو صنعت، د وړېښمو د اوبدلو صنعت، د تارونو د وړېشلو صنعت، د چرمګرۍ صنعت، ترکاڼي، مسګري، آهنګري، زرګري، حکاکي او داسې نور صنايع دي.

د دې صنايعو زياته برخه د خلکو د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره مصرفيږي.

لاسي صنايع د کرنې او مالدارۍ سره نږدې اړيکې لري؛ ځکه د صنايعو زياتره اومه توکي له نباتاتو، لکه: پومبې، کتان، وړېښمو او له حيواني محصولاتو، لکه: پوستکو، وړيو او داسې نورو څخه لاسته راځي. زموږ په هېواد کې سپېنسين (نخي)، وړين او

وربښمین ډول ډول توکي، لکه: غالۍ، ټغر، سطرنجۍ، لونګۍ او لیمڅي جوړېږي او له لوخو څخه پوزي او بدل کېږي.

د دولت پام او د تجربو تبادله د لاسي صنایعو د پراختیا لپاره زمنیه برابروي او د لاسي صـنایعو تولیدات د هېواد اقتصاد پیاوړی کوي.

فعالیت

په ډلو کې د لاسي صنایعو د اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د لاسي صنایعو زیاتره اومه توکي له څه شي څخه لاسته راځي؟

۲- لاسي صنایع د کرنې او مالدارۍ سره څه اړیکې لري؟

۳- د لاسي صنایعو د ډولونو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

د هغو لاسي صنایعو په اړه، چې ستاسو په سیمه کې دود دي، څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

غالۍ اوبدل

پوښتنه

ستاسو په آند، د غالۍ اوبدلو د صنعت وده او پراختیا زموږ د هېواد په اقتصاد کې څه اغېز لري؟



د غالۍ اوبدلو صنعت په افغانستان کې اوږده مخینه لري. غالۍ اوبدل زموږ د هېواد له ډېر مهم صنعت څخه بلل کېږي. افغاني غالۍ د جنسیت، دوام، رنگ او ډېزاین له پلوه نړیوال شهرت لري. له افغاني غالیو څخه چې هرڅومره کار واخیستل شي په هماغه کچه یې قیمت پورته ځي. افغاني غالۍ،لکه: د آقچې دولت آبادۍ، کندزۍ، مروي یا موري، قزل اياقي، بلوڅي او داسې نورې دي. چې د هېواد په دننه او بهرکې ډېر پیردونکي لري.

د ټغر اوبدلو صنعت هم د افغانستان په ډېرو ځايونو کې دود دی. ډېر ښه ډول

يې قاقمه يې ټغر دی چې په مزار شريف، سرپل او جوزجان کې اوبدل کيږي.

د غاليو اوبدلو پراختيا زموږ د هېواد او کورنيو په اقتصاد کې ډېر رول لري.

.

فعاليت

په ډلو کې د غاليو د اقتصادي اهميت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- زموږ د هېواد د غاليو د مشهورو ډولونو نومونه واخلئ.

٢- افغاني غالۍ له کوم پلوه ډېر شهرت لري؟

٣- افغاني غالۍ کوم ځای ته صادريږي؟

کورنۍ دنده

د غاليو د اقتصادي اهميت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

چمیاري

پوښتنه

ستاسو په آند، د چمیارۍ د صنعت وده او پراختیا د کورنیو او ټولنې په اقتصاد کې څه رول لري؟

د چمیارۍ او بوټ ګنډلو صنعت د لاسي صنایعو له ډلې څخه دی چې له پخوازمانو څخه زموږ په هېواد کې دود لري. له څرمنې څخه بوټان، پوستین، پوستینچه، د اوبو مشک او د څارویو لپاره زین، تنګ (د زین ترلو رسۍ)، واګې (لګام) او افسار(ترسرۍ) جوړوي.

دې صنعت نن زموږ په هېواد کې پرمختګ کړی دی. له څرمنې څخه ډول ډول بوټونه، جمپرونه، بکسونه، لاسي بکسونه او داسې نور شیان جوړېږي.

دا کار عموماً په وړو او لویو دستګاوو کې ترسره کېږي او د خلکو اړتیاوې تریوه

حده پوره کوي.

د چمیاري او بوټ گنډلو د صنعت وده نه یوازې د کورنیو په اقتصاد کې زیات اهمیت لري، د ټولنې د اقتصاد په پرمختگ کې هم ډېر ارزښت لري.

فعالیت

په ډلو کې د چمیارۍ د اقتصاد د اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د چمیارۍ صنعت د کومو صنایعو له ډلې څخه دی؟

۲- له څرمنې څخه کوم شیان جوړیږي؟

۳- له څرمنې څخه د څارویو لپاره کوم شیان جوړیږي؟

کورنۍ دنده

د چمیارۍ د صنعت د اهمیت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

خامک ګنډل

پوښتنه

ستاسو په آند، د خامک ګنډلو زده کول د ټولنې او د کورنیو په اقتصاد کې څه اهمیت لري؟

دا صنعت ډېر ډولونه لري، لکه:خولۍ ګنډل، غاړه ګنډل، دستمال ګنډل، پردې ګنډل او داسې نور.

خامک هم په لاس او هم د ګلدوزۍ د ماشینونو په واسطه ګنډل کېږي چې د یخن ګنډلو، خادرګنډلو، پایڅې ګنډلو او د میز د سر دستمالونو له ګنډلو څخه عبارت دي چې د هېواد په دننه او بهر کې ډېر اخیستونکي لري.

خامک ګنډل (د ستنې ګنډل) زموږ د هېواد یو پخواني صنعت دی. دا صنعت هم د نورو صنعتونو په څېر ارزښناک دی چې د هغې وده او پراختیا د هېواد او

د کورنيو د اقتصاد د لوړوالي لامل کېږي.

فعاليت

په ډلو کې د خامک ګنډلو د صنعت د ډولونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د خامک ګنډلو د ډولونو نومونه واخلئ.

۲-خامک ګنډل دکورنيو د اقتصاد په ښه والي کې څه اهميت لري؟

۳- د خامک ګنډلو صنعت د څه شي په واسطه ترسره کېږي؟

کورنۍ دنده

ستاسو په سيمه کې کوم ډول خامک ګنډل دود دي؟ په دې اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ماشيني صنايع

پوښتنه

ستاسو په فکر، زموږ په هېواد کې کوم ماشيني صنايع توليدېږي؟

ماشيني صنايع په لږ وخت کې ډېرو صنعتي اومو توکو ته په ښه ډول بدلون ورکوي او هغه د خلکو د ګټې اخيستنې لپاره برابروي. په تېرو لوستونوکې مو ولوستل چې زموږ هېواد يو کرنيز هېواد دی، نو ماشيني صنايعو هم زموږ په هېواد کې د اوبو او حرارتي برښنا په توليد سره سم په مرکز او ولايتونو کې په فعاليت پيل کړی دی.

په (۱۳۲۵) لمريز کال کې زموږ په هېواد کې ۳۹۱ وړو او غټو فابريکو فعاليت کاوه او د هېوادوالو د اړتيا وړ صنايع يې توليدول.

اوس هغه فابريکې بيارغول شوي او ترڅنګ يې ځينې نورو هم نوی کار پيل

کړی دی. اوس د هېواد په مرکز او ولایتونو کې(۹) صنعتي پارکونه جوړشوي دي چې (۵۸۰)تولیدي شرکتونه پکې فعالیت کوي او په زرګونو هېوادوالو ته يې د کار زمینه برابره کړې ده.

په دې صنایعو کې د کانونو د را اېستلو، کیمیاوي صنایعو،سپکو صنایعو،لکه: د وربښمو تولیدات، نخي صنایع، د غذایي توکو صنایع، د ممیزوپاکولو، د خوړلو د مالګې، کنګل، کوکاکولا، فانتا، نباتي غوړيو، د ډوډۍ محصولات، شیریني او داسې نور شامل دي.

فعالیت

په ډلو کې د هېواد د ماشیني تولیداتو د ډولونو په اړه سره خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د ماشیني صنایعو ځانګړتیاوې بیان کړئ.

۲- زموږ په هېواد کې څو صنعتي پارکونه فعالیت لري؟

۳- د هېواد د ماشیني صنایعو ډولونه بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د کورني صنایعو د تولیداتو په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

د نساجي او اوبدلو فابریکه

پوښتنه

ستاسو په آند، زموږ په هېواد کې کوم صنعت ډېره وده کړې ده؟



د نساجي او اوبدلو فابریکې هغه کار خونې دي چې په هغو کې د نخي، سنډي، وړیو او د وریښمو ټوټې تولید او اوبدل کېږي.

په افغانستان کې د اوبدلو بېلابېل ډولونه،لکه:د نخي، وړیو، د وریښمو ټوټې او داسې نورې دود دي. د نساجي صنعت د سپکو صنایعو یوه برخه ده. ماشیني نساجي د لومړي ځل لپاره په ۱۳۳۲ لمریز کال د کاپیسا ولایت په ګلبهار کې جوړه شوه. زموږ د هېواد د اوبدلو فابریکې، د بګرامیو نساجي فابریکه، د ګلبهار نساجي، د پلخمري نساجي، دجبل السراج نساجي فابریکې، د کندهار د وړیو اوبدلو فابریکه، د پلخمري د وړیو اوبدلو فابریکه او د څرخي پله فابریکه ده.

دې صنعت به په ښه او چټک تولید سره زموږ د خلکو اړتیاوې پوره کولې، خو په دې وروستیو کې دغه صنعت زیات زیانمن شوی دی.

دولت او خصوصي سکټور کوښښ کوي چې د اوبدلو صنعت ته د ودې او پرمختګ زمینه برابره کړي، چې له یو پلوه کورني تولیدات وده وکړي او له بلې خوا خلکو ته کسب او کار پیدا شي له دې سره به د هېواد اقتصاد پیاوړی شي او د بهرنیو توکو د واردولو مخه به ونیول شي.

فعالیت

په ډلو کې د اوبدلو صنعت په اړه یو له بل سره خبرې اترې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د نساجي صنعت تعریف کړئ؟

۲- د اوبدلو او نساجي په فابریکو کې کوم توکي اوبدل کېږي؟

۳- اوبدل څه ګټه لري؟

کورنۍ دنده

د اوبدلو په اړه خو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د درمل جوړولو صنعت

پوښتنه

ستاسو په آند، د درمل جوړولو صنعت څه اهمیت لري؟

درمل هغه اندازه کیمیاوي مواد دي چې د بدن د وزن او عمر په اساس د ټاکلي وخت لپاره د متخصصو ډاکټرانو په واسطه ناروغانو ته توصیه کېږي او بېلابېل ډولونه لري،لکه: ګولۍ، شربت، کپسول، ستنې (پیچکارۍ) مرهم او داسې نور.

زموږ د هېواد خلک له پخوا زمانو څخه تر نن ورځې پورې د ناروغیو د درملنې لپاره د تجربه لرونکو کسانو په مشوره له طبي بوټو او مېوو څخه د دوا په توګه کار اخلي او هم د درملنې لپاره یوناني طبیبانو او ډاکترانو ته ورځي.

زموږ په هېواد کې لومړنۍ فابریکه چې ډول ډول درمل یې په معیاري او علمي بڼه تولیدول، د هوخست شرکت و چې د کابل په ښار کې د آلمان هېواد په مرسته جوړ شوی و او تولید یې د لوړ کیفیت لرونکی دی.

که چېرته په هېواد کې د درملو جوړولو د صنعت ودې او پرمختګ ته پام وکړو، نو موږ به په راتلونکي کې په لوړ کیفیت سره د درملو جوړولو د لویو فابریکو خاوندان یو.

فعالیت

په ډلو کې د درملو د ډولونو په اړه خبرې اترې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- درمل تعریف کړئ؟

۲- زموږ په هېواد کې د درمل جوړولو لومړی شرکت څه نومیده؟

۳- خلک له طبي بوټو او مېوو څخه د څه لپاره کار اخلي؟

کورنۍ دنده

د څو طبي بوټو نمونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د سمنټ جوړولو فابریکې

پوښتنه

ستاسو په آند، زموږ په هېواد کې د سمنټ جوړولو څو فابريکې شته؟

له سمنټو څخه، د کورونو، جوماتونو، فابريکو، ښوونځيو، پلونو، سړکونو او نوروځايونو په جوړولو کې کار اخيستل کېږي. دې صنعت زموږ په هېواد کې تر يوې اندازې پورې وده کړې ده او خورا ښه کيفيت لري.

د غوري سمنټو فابريکه زموږ د هېواد له لويو فابريکو څخه ده چې د بغلان ولايت د پلخمري په ښار کې جوړه شوې ده. دا فابريکه په ۱۳۲۲ هـ.ل. کال کې د پخوانۍ چکوسلواکيا د هېواد په تخنيکي او اقتصادي مرستې جوړه شوې وه او له سمنټو څخه يې زموږ د هېواد د ودانيو په جوړولو کې ګټه اخيستل کېږي.

د سمنټو د جوړولو دویمه فابریکه د پروان په ولایت کې د جبل السراج فابریکه ده د دې فابریکې سمنټ، د غوري د فابریکې د سمنټو په څېر ښه کیفیت لري.
د جبل السراج فابریکې په ۱۳۲۷ هـ.ل. کال کار پیل کړ. اوس د دې فابریکې کلنۍ تولیدات له شاوخوا ۲۵ زره ټنو څخه پورته دي.
همدارنګه، د خلکو د زیاتې اړتیا په خاطر په هرات او سمنګانو کې هم د سمنټو فابریکې د جوړولو په حال کې دي چې د دې نویو فابریکو په جوړولو سره به د سمنټو تولیدات زیات او د هېواد اقتصاد به مو پیاوړی شي.

فعالیت

په ډلو کې د سمنټو څخه د ګټې اخستنې په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د غوري سمنټو فابریکه زموږ د هېواد په کوم ولایت کې ده؟
۲- د غوري سمنټو فابریکه د کوم هېواد په مرسته جوړه شوې ده؟
۳- زموږ په هېواد کې د سمنټو جوړولو څو فاربریکې شته دي؟

کورنۍ دنده

له سمنټو څخه د ګټې اخیستنې په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

درانه او سپک صنایع

پوښتنه

ستاسو په فکر، درانه او سپک صنایع کوم دي؟

درانه صنایع، لکه: د اوسپنې د جوړېدلو کارخانه، درانده ماشینونه او کیمیاوي صنایع زیاتې پانګونې ته اړتیا لري او د تولید بېلابېل پړاوونه وهي.

زموږ په هېواد کې د دې صنعت یوازینۍ کارخانه په کابل کې د جنګلک فابرېکه وه چې د کارول شوو اوسپنو په ویلي کولو یې فلزي توکي، لکه: مېز، څوکۍ، چپرکټونه، لاسي کراچۍ، مېخونه، دروازې، آلمارۍ، د موټرو پرزې، ګول سیخ او داسې نور تولیدول. په دې وروستیو کې د هغې د جوړولو او بیارغونو کار جریان لري. همدارنګه، په هېواد کې د کارول شویو فلزاتو د ویلي کولو نوې کارخانې فعالیت کوي چې د هېوادوالو د اړتیا وړ ډول ډول ګاډر او ګول سیخ تولید وي.

زموږ په هېواد کې د معدني سرشارو زېرمو په درلودو سره او بیا په ځانګړې توګه د اوسپنې او مسو د یوشمېر معدنونو په شتون، د درنو صنایعو د ودې امکان شته دی.

خفیفه یا سپک صنایع: هغه صنایع دي چې د تولیداتو وزن یې لږ، لېږد یې آسان او په مستقیمه توګه د خرڅلاو بازارونو ته وړل کیږي. چې ښې بېلګې یې د نساجي صنایع، د لرګیو او کاغذ صنایع او محصولات دي، چې د کورنیو توکو تولیدات

او داسې نور دي.

څرنګه چې زموږ هېواد یو زراعتي هېواد دی او د سپکو صنایعو ډېر اومه توکي (مواد) يې کرنيز او حیواني محصولات دي، له همدې امله په هېواد کې د دې صنایعو د ودې لپاره ډېر امکانات شته.

فعالیت

په ډلو کې د درنو او سپکو صنایعو د محصولاتو د ډولونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- درانه صنایع تعریف کړئ؟

۲- سپک (خفیفه) صنایع تعریف کړئ؟

۳- په هېواد کې د درنو صنایعو څو کارخانې موجودې دي؟

کورنۍ دنده

د درنو او سپکو صنایعو په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

تور او رنګه فلزات

پوښتنه

ستاسو په آند، زموږ په هېواد کې له تورو او رنګه فلزاتو څخه څه ګټه اخېستل کېږي؟

تور فلزات

اوسپنه، چودن، پولاد او نور هغه فلزات چې تور یا تور ته ورته رنګ ولري د تورو فلزاتو په نامه یادیږي. د تورو فلزاتو صنعت د اوسپنې د را اېستلو، ویلي کولو، د فولادو د جوړولو تولید او د هغو صنعتي کیدو ته وایي چې ډېره ګټه ورڅخه اخیستل کیږي.

زموږ په هېواد کې د اوسپنې (۲۷) کانونه شته دي چې تر ټولو مهم یې د بامیانو په ولایت کې د حاجیګک د اوسپنې کان دي. اوسپنه یې هم ښه جنسیت او زیاتې زېرمې لري.

رنګه فلزات

هغه فلزات چې له تور رنګ څخه پرته بل رنګ ولري د رنګه فلزاتو په نامه یادیږي، لکه: مس، المونیم، سپین زر، سره زر، نِکل، قلعي، سُرب او داسې نور.

د رنګه فلزاتو صنعت

مس سور بخن فلز دی چې انسانانو د لرغونو زمانو راهیسې پېژانده او ګټه یې ورڅخه اخېسته د مسو او المونیمو څخه په برېښنایي ماشین الاتو او د برېښنا د انرژۍ د انتقال لپاره کار اخیستل کیږي.

له سپينو او سرو زرو څخه د زيات ارزښت له امله د ګاڼي په جوړولو کې ګټه اخېستل کيږي. قلعي چې سپين رنګه فلز دی په صنعت کې ډېر کارول کيږي.

ټټاران (مسګران) په ابتدايي وسايلو سره د هېواد والو د اړتيا وړ لوښي جوړوي او زرګران هم له سپينو او سرو زرو څخه ډول ډول ګاڼې جوړوي.

زموږ په هېواد کې د مسو، سروزرو، سپينو زرو، المونيمو او د نورو رنګه فلزاتو کانونه شتون لري. د عينکو د مسو کان چې د لوګر په ولايت کې دی. د نړۍ له ښو او لويو کانونو څخه ګڼل کيږي.

زموږ هېواد د کانونو له پلوه شتمن او غني دی. د فلزاتو رااېستنه او له هغو څخه ګټه اخېستنه د کارونو په رامنځ ته کېدو او د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ډېر رول لري.

فعاليت

په ډلو کې د تورو او رنګه فلزاتو د اهميت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د هېواد د اوسپنې تر ټولو لوی کان په کوم ولايت کې موقعيت لري؟

۲-زموږ په هېواد کې د رنګه فلزاتو کوم کانونه موجود دي؟

۳- د عينکو د مسو کان په کوم ځای کې موقعيت لري؟

کورنۍ دنده

د فلزاتو د اقتصادي ارزښت په اړه خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

ترکاڼي او حجاري

پوښتنه

ستاسو په آند، له ډبرو او لرګیو څخه په کومو برخو کې ګټه اخیستل کېږي؟

الف) ترکاڼي

هغه کسب دی چې له لرګیو څخه ښکلي وسایل لکه: صندوقونه، دروازې، کړکۍ، مېزونه، څوکۍ او داسې نور جوړوي. زموږ په هېواد کې د لرګیو صنعت له پخوا وختونو څخه دود دی. ترکاڼانو به له لرګیو څخه ډول ډول کړکۍ، ورونه(دروازې)، مېزونه، څوکۍ او داسې نور وسایل په بېلابېلو بڼو او ډولونو سره جوړول. د نورستان ولایت د لرګیو څوکۍ، مېزونه، صندوقونه او کړکۍ ډېرې ښکلې او ارزښتناکې دي او تل د ګرځندویانو د پام وړ ګرځېدلې دي. په ختیځو او سوېلي ولایتونوکې ترکاڼان د کورونو او جوماتونو چتونه په بېلابېلو بڼو سره ښکلي کوي چې د کورونو او جوماتونو ښکلا پرې زیاتیږي.

د دغه صنعت ودې او پراختیا ته د دولت په پاملرنه زموږ د خلکو لپاره د کارونو او بوختیاوو ښې آسانتیاوې برابریږي او د هېواد اقتصاد پرې پیاوړی کیږي.

ب) حجاري

د زینتي وسایلو او لوښوجوړولو په موخه د ډبرو کېندلواو توګولو ته حجاري وایې. د حجاري صنعت زموږ په هېواد کې له پخوا څخه دود دی، د هېواد تکړه ډبر توړونکي د مرمرو او رخام له ډبرو څخه د کورونو او تعمیرونو لپاره ډول ډول زینتي ډبرې او بېلابېل لوښي، لکه: پیاله، ګیلاس، چایجوش، میز او داسې نورجوړوي چې د هېواد په دننه او بهر کې د ښه بازار په درلودلو هنري او تاریخي اهمیت لري.

د حجاري فابریکې په جلال آباد، هلمند او هرات ولایتونو کې جوړې شوې دي چې له تولید څخه یې د هېواد په دننه کې ګټه اخېستل کیږي او بهر ته هم لېږدول کیږي.

فعالیت

په ډلو کې د ترکاڼۍ او حجارۍ صنعت په اړه خبرې اترې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- ترکاڼان له لرګیو څخه کوم شیان جوړوي؟

۲- د لرګیو په صنعت کې زموږ د هېواد کوم ولایتونه مشهور دي ؟

۳- ډبر توړونکي له ډبرو څخه کوم شیان جوړوي؟

کورنۍ دنده

په کوم ځای کې چې ژوند کوئ، د هغو شیانو نومونه چې له لرګیو څخه جوړیږي، په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

سوداګري

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د سوداګرۍ په مفهوم پوه شي.
- د داخلي او بهرنۍ سوداګرۍ په اقتصادي اهمیت پوه شي او هغه یو له بله سره توپیرکړای شي.
- د هېواد د صادراتو او وارداتو په اړه توضیحات ورکړای شي.
- د سوداګرۍ او د هغه له اقتصادي اهمیت سره مینه پیدا کړي.

درې څلویښتم لوست

سوداګري

پوښتنه: ستاسو په فکر، سوداګري د یوه هېواد په اقتصاد کې څه رول لري؟

انسانان د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره دې ته اړ دي، هغه توکي چې خپله یې تولید کړې وي پر نورو وپلوري او د خپلې اړتیاوړ توکي له نورو څخه ترلاسه کړي،دې ته سوداګري وایي. په بل عبارت، د ګټې په موخه د توکو اخیستلو او پلورلو ته سوداګري وایي.

سوداګري دوه ډوله ده: داخلي سوداګري او بهرنۍ سوداګري.

د هر هېواد پراختیا او پرمختګ د توکو په ډېر تولید پورې تړلې وي، څومره چې د هېواد صادرات ډېر وي، په هغه کچه بهرني اسعار (پیسې) هغه هېواد ته راوړل کېږي او پیسې یې ارزښت پیدا کوي او اقتصاد یې پیاوړی کېږي.

افغانستان داسې يو هېواد دی چې له وچې سره تړلی دی او له سمندرونو سره مستقيمه لار نه لري، خو له دې سره د نړۍ له زياترو سوداګريزو بازارونو سره اړيکې لري.

د افغانستان سوداګري په کرنيزو (زراعتي) محصولاتو، د څارويو په توليداتو او لاسي صنايعو باندې ولاړه ده.

افغانستان هر کال ډېرې تازه او وچې مېوې، لکه: پسته، بادام، جلغوزي، مميز او داسې نور پاکستان، هندوستان، اروپا او امريکا ته لېږدوي.

زموږ د هېواد صادراتي توکي د څارويو توليدات، پوستکي، د قره قل پوستکي او کولمې دي چې د اروپا او نورو هېوادونو بازارونو ته لېږدول کېږي چې په پايله کې يې ډېر خارجي اسعار (پيسې) هېواد ته راځي او د هېواد د اقتصاد په پرمختګ کې مهم رول لري.

فعاليت

په ډلو کې د سوداګرۍ د ګټو په اړه په خپلو منځونو کې خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- سوداګري څه ته وايي؟

٢- زموږ د هېواد سوداګري په کومو شيانو ولاړه ده؟

٣- زموږ د هېواد تر ټولو ډېر صادراتي توکي کوم دي؟

کورنۍ دنده

د افغانستان د صادراتو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

داخلي سوداګري

پوښتنه

ستاسو په آند، داخلي سوداګري د هېواد په اقتصادکې څه اهمیت لري؟

له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته د ګټې اخېستنې په موخه د اضافي محصولاتو انتقالولو ته داخلي سوداګري وايي.

داخلي سوداګري نه يوازې ښارونه يو له بل سره نښلوي، د هېواد د بېلابېلو قومونو او قبايلو ترمنځ ټولنيزې، کلتوري او اقتصادي اړيکې هم ټينګوي او پراخوي. سوداګر له کليو څخه ښارونو ته سوداګريز توکي لېږدوي او په مقابل کې د اړتيا وړ شيان د هېواد له لويو ښارونو څخه کليو او ولسواليو ته انتقالوي چې له دې فعاليت څخه سوداګران ګټه ترلاسه کوي او د خلکو اړتياوې هم

پوره کوي.

په عمومي توګه د هېواد سوداګران صنعتي اومه توکي، مېوې، د لاسي صنايعو توليدات او څاروي په ښارونوکې پلوري او په بدل کې د خلکو د اړتيا وړ شيان اړوندو سيمو ته انتقالوي.

فعاليت

په ډلو کې د داخلي سوداګرۍ په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

١- د کليو او ښارونو د خلکو ترمنځ د داخلي سوداګرۍ رول بيان کړئ.

٢- داخلي سوداګر د کليو او ښارونو ترمنځ کوم شيان انتقالوي؟

٣- ستاسو داستوګنې په سيمه کې کوم شيان پلورل او پېرودل کيږي؟ نوم يې واخلئ.

کورنۍ دنده

د داخلي سوداګرۍ په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

بهرنۍ سوداګري

پوښتنه

ستاسو په آند، بهرنۍ سوداګري څه اهمیت لري؟

صادرات

نورو هېوادونو ته د خرڅلاو او یا د بدلېدو په موخه د کالیو او نورو توکو لېږدولو ته صادرات وايي. صادرات د هېواد د اقتصاد په وده او پراختیا کې ډېر اهمیت لري، له دې کبله باید د صنعتي تولیداتو او زراعتي محصولاتو پراختیا او لوړوالي ته پام وشي، چې زموږ د خلکو اړتیاوې پوره او اضافي محصولات مو له هېواد څخه بهر ته صادر شي. هغه هېواد چې نورو هېوادونو ته ډېر کالي او توکي صادر وي، په هماغه کچه یې خپل اقتصاد لوړېږي.

زموږ د هېواد صادرات دادي: پنبه، وچې او تازه مېوې، وړۍ، کُلمې، پوستکي د قره قل پوستکي او طبي نباتات، لکه: زعفران، زیره، هنګ، شیرین بویا(خوږه ولې)، د لاسي صنایعو محصولات، لکه: غالۍ او داسې نور، چې له صادرولو څخه یې زموږ هېواد ته بهرني اسعار را وړل کېږي او د اقتصادي ودې لامل کېږي.

واردات

زموږ هېواد کرنیز محصولات او صنعتي توکي تولېدوي. د دې لپاره چې زموږ د هېواد اقتصاد په کرنیزو محصولاتو، مالدارۍ او لاسي صنایعو ولاړ دی او صنعت یې ښه وده نه ده کړې چې د هېواد ټولې اړتیاوې پوره کړي، نو د

اړتیا وړ توکي، لکه: نفت، ګیس (طبیعي ګاز)، خوراکي توکي، د ودانیو توکي، نقلیه وسایط، درمل، د برېښنا سامان آلات او داسې نور له نورو هېوادونو څخه واردېږي.

د دې لپاره چې د کالیو او توکو د واردولو مخه ونیسو او یا تر یو بریده پورې هغه لږ کړو، نو باید د خپل هېواد تولیداتو او محصولاتو ته پام وکړو.

زموږ په هېواد کې د کرنې لپاره ځمکې شته چې د اوبو له زېرمو او زراعتي ماشینونو څخه په کار اخیستلو سره کولای شو کرنیز محصولات اوچت کړو.

په همدې توګه، د کانونو، نفتو او ګازو له رااېستلو سره کولای شو، د هېواد صنعت پراخه کړو، د هېواد کورنۍ اړتیاوې حل او هم اضافي محصولات بهر ته ولېږدوو.

فعالیت

په ډلو کې د صادراتو او وارداتو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د افغانستان ترټولو مهم صادراتي توکي کوم دي؟

۲- صادرات څه ته وايي؟

۳- د هېواد واردات څرنګه کمولای شو؟

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د هغو شیانو نومونه ولیکئ چې له هېواد څخه بهر ته لېږدول کېږي.

زموږ د هېواد بندرونه

پوښتنه

کله د هېواد له کوم بندرڅخه تېرشوي یاست؟



بندر د دوو هېوادونو ترمنځ هغه سرحدي نقطه ده چې د خلکو او سوداګریزو مالونو تګ راتګ او حمل ونقل پکې کېږي.

هغه هېوادونه چې له سمندر سره نښتي دي، سمندري بندرونه لري. خو هغه هېوادونه چې له سمندر سره لاره نه لري، د وچې بندرونه لري. زموږ د هېواد مهم بندرونه حیرتان، د آقیني، آی خانم، شیرخان، تورغونډی، اسلام قلعه، زرنج، تورخم، غلام خان، سپین بولدک او ابونصرفراهي دي.

د تورخم بندر: دا لویه سوداګریزه لاره ده. د افغانستان او پاکستان ترمنځ له ګڼې

ګونې شخه ډکه سیمه ده چې د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په اوږدو کې پرته ده.

د سپین بولدک بندر: دا بندر د کندهار ولایت په سویل کې د ډیورند د تحمیلي کرښې په اوږدو کې موقعیت لري او د افغانستان او پاکستان ترمنځ دویم لوی بندر دی.

د حیرتان بندر: د حیرتان بندر د بلخ ولایت په شمال، د افغانستان او ازبکستان ترمنځ پوله کې پروت دی، زموږ هېواد د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره نښلوي او زموږ د هېواد یو مهم سوداګریزو بندر شمېرل کېږي.

د تورغونډۍ بندر: دا بندر افغانستان له ترکمنستان سره چې د افغانستان او منځنۍ آسیا د هېوادونو تر منځ مهمه سوداګریزه لاره ګڼل کېږي، نښلوي.

د اسلام قلعه بندر: د افغانستان او ایران ترمنځ سرحدي سیمه ده چې د هرات ولایت لویدیځ لوري ته موقعیت لري.

د بندرونو شتون د یوه هېواد لپاره ډېر مهم او حیاتي دی. له دغو لارو شخه د خلکو او د سوداګریزو مالونو تګ راتګ او لیږد رالیږد کېږي. له بندرونو شخه لاس ته راغلي ګټه زموږ د هېواد د عوایدو مهمه برخه ده.

فعالیت

په ډلو کې د هېواد د مهمو بندرونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د افغانستان د بندرونو نومونه واخلئ؟

۲- د تورغونډۍ د بندر په اړه معلومات ورکړئ؟

۳- د تورخم بندر زموږ هېواد له کوم هېواد سره نښلوي؟

کورنۍ دنده

د بندرونو د اقتصادي اهمیت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

اووم څپرکی

د ژوند چاپېریال

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې لاندې موخوته ورسېږي.

- د ژوند د چاپېریال په ګټو به پوه شي.
- د مختلفو سیمو اقلیم به وپېژني.
- د خپل هېواد د اقلیمونو ډولونه به تشریح کړي.
- د برېښنا د تولید د ځرنګوالي او ارزښت په هکله به تشریحات ورکړي.
- د هېواد د کانونو، زیرمو د اهمیت او ارزښت په هکله به پوه شي.

اوو څلوېښتم لوست

د ژوند چاپېریال

پوښتنه: ستاسو په آند، انسانان د خپل ژوند د چاپېریال د پاک ساتلو لپاره ولې کوښښ کوي؟



د ژوند د چاپېریال ساتل د اوسېدلو ځای د پاک او سمسور ساتلو په معنا دی.

د ژوند د چاپېریال ساتل د روغ جسم او غوره ژوند لپاره ضروري دی.

فاضله توکي، لوګي، خځلې، خاورې او دوړې د ژوند د چاپېریال د ککړتیا او د ډول ډول ناروغیو لامل ګرځي. چې باید په ټاکلو او مناسبو ځایونو کې وغورځول شي.

کور، جومات، مدرسه، ښوونځی، لارې، د کرنې ځمکې، باغونه، د سیل ځایونه، ویالې، سیندونه، ښاګانې، کاریزونه، چینې او نور چې د ژوند چاپېریال دی باید پاک وساتل شي او د ونو او ځنګلونو له پرېکولو څخه یې ډډه وشي.

د کورنیو مشرانو او ښوونکو ته پکار ده چې زده کوونکو ته د ژوند د چاپېریال د پاک ساتلو په اړه ګټورې لارښوونې وکړي.

پاکوالی د روغتیا لپاره ډېر ضرور دی له دې امله باید خپل ځان او چاپېریال پاک او سمسور وساتو. افغانستان زموږ د ټولو ګډ کور دی. د هغه پاک او سمسور ساتل د هر افغان دنده ده.

فعالیت

په ډلو کې د ژوند د چاپېریال د پاک ساتلو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د ژوند چاپېریال څه شی دی؟

۲- ناپاکه چاپېریال څه زیانونه لري؟

۳- کوم شیان د ژوند چاپېریال ککړوي؟

کورنۍ دنده

د ژوند د چاپېریال د ساتلو په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

اقليم

پوښتنه

ويلای شئ چې ستاسو د استوګنځي هوا څرنګه ده؟

اقليم، د هوا د حالاتو، لکه: تودوخه، اورښت، رطوبت او داسې نورو منځنی حد دی چې له ډېرشو کلونو څخه زيات په يوه سيمه کې تکرار شي.

د ځمکې د کرنې د سيمو اقليم د استوا له کرښې او له سمندر څخه د لرېوالي او د بحر له سطحې سره د لوړوالي د اختلاف له امله جلاجلا دی چې په لاندې ډول دي:

معتدل اقليم

په دغه اقليمي سيمه کې د کال په اوږدوکې بارانونه اوري، هوا يې نه ډېره توده او نه ډېره سړه وي.

قطبي اقليم

د کال په اوږدو کې سوړ، وچ او کنګل وي.

غرنی اقليم

د ارتفاع او لوړوالي له امله سوړ او واورين وي.

صحرايي اقليم

د کال په اوږدو کې تود او وچ وي او لږ باران پکې اوري.

نيمه صحرايي اقلم

اوړی يې تود، وچ او ژمی يې سوړ او واورين وي.

مديترانه يي اقليم

اوړی يې تود، وچ او ژمی يې معتدل او باراني وي.

اقليمي سيمې د څارويو او نباتاتو د ودې لپاره مناسبې سيمې دي. په دې توګه، د نباتاتو د کرښې لپاره د هرې سيمې د اقليم پېژندل اړين دي.

فعاليت

په ډلو کې د اقليم د ځانګړتياوو په اړه په خپلو کې خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- اقليم تعريف کړئ؟

۲- د اقليمونو د ډولونو نومونه واخلئ؟

۳- د صحرايي اقليم هوا څرنګه ده؟

کورنۍ دنده

د خپلې سيمې د اقليم په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

د افغانستان اقليم

پوښتنه

څه فکر کوئ، ستاسو سيمه څه ډول اقليم لري؟



د صحرايي سيمه

مديترانه يي سيمه

افغانستان يو غرنی هېواد دی. د شمالي نيمي کرې په معتدله سيمه کې د استوا له کرښې او د هند له سمندره لرې پروت دی چې لاندې اقليمونه لري:

۱ - صحرايي اقليم

زموږ د هېواد سهيل لوېديځې سيمې، لکه: فراه، لښکرګاه او نيمروز، صحرايي اقليم لري چې هلته باران لږ اوري، ورځې يې تودې او شپې يې سړې وي.

۲ - نيمه صحرايي اقليم

زموږ د هېواد شمالي ولايتونه نيمه صحرايي اقليم لري؛ يعنې دوبی يې تود، وچ او ژمی يې په نسبي توګه سوړ او واورين وي.

۳- غرنی اقلیم

د هېواد غرنۍ سیمې د ارتفاع له امله سړه هوا لري او په لوړو سیمو کې یې تل په ژمي کې واورې اوري.

۴- مدیترانه یي اقلیم

د ننګرهار، کونړ او لغمان ولایتونه مدیترانه یي اقلیم لري. اوړی یې تود او وچ او ژمي یې معتدل او باراني وي. په دغو ولایتونو کې د نارنج، مالتې او لیموونې ښه حاصل ورکوي.

زموږ هېواد د بېلابېلو اقلیمونو د لرلو له امله د ډول ډول غلو او باغونو د روزلو وړتیا لري چې د هرې سیمې اقلیمي ځانګړتیاوو ته په پام سره د هماغې سیمې د اقلیم ځانګړي نباتات پکې کرل کېږي.

فعالیت

په ډلو کې د اقلیمي ځانګړتیاوو د ډولونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- د ننګرهار، کونړ او لغمان ولایتونه څه ډول اقلیم لري؟

۲- زموږ د هېواد کومې سیمې صحرایي اقلیم لري؟

۳- د نیمه صحرایي اقلیم ځانګړتیاوې بیان کړئ؟

کورنۍ دنده

د افغانستان د اقلیم په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د برېښنا تولید

پوښتنه

څه فکر کوئ، برېښنا څرنګه تولید یږي؟

برېښنا هغه انرژي ده چې د تودوخې د رامنځته کېدو، روښنايي او د ماشينونو په کار اچولو او داسې نورو برخو کې ورڅخه ګټه اخيستل کيږي.

افغانستان يو غرنی هېواد دی چې له غرونو څخه يې ډېر سيندونه سرچينه اخلي. هغه اوبه چې له غرنيو سيمو څخه هوارو سيمو ته رابهيږي، د يوې قوي لرونکي دي چې خلکو له پخوا څخه تر نن پورې له هغو څخه ډول ډول ګټې اخيستي دي؛ د بېلګې په توګه: خلک د کرنې په برخه کې له اوبو څخه د ګټې اخيستلو سربېره داوبو له قوې څخه د ژرندو او پايکوګانو په فعالولو او د توربينونو په نصبولو سره برېښنا تولید او له هغې څخه په روښنايۍ، د ماشينونو

په کار اچولو او داسې نورو برخو کې ګټه اخلي. تردې مهاله، زموږ په هېواد کې د برېښنا ډېر بندونه پرسیندونو ودان شوي دي چې مهم بندونه يې، د ماهيپر، نغلو، سروبي، درونټې، کجکي، جبل سراج، پلخمري او سلما بندونه دي. د دې بندونو برېښنا د هوايي او د ځمکې لاندې لینونو او کیبلونو په واسطه ښارونو او فابریکو ته لېږدول شوې ده.

زموږ په هېواد کې پر دې سربېره چې د اوبو له برېښنا څخه کار اخلي، د لمر او باد له انرژۍ څخه هم برېښنا ترلاسه کوي. حرارتي برېښنا د طبیعي ګازونو، نفتو او د ډبرو سکرو له انرژي څخه تولیدیږي. نن په نړۍ کې له هسته يي انرژۍ څخه هم زیاته برېښنا تولید وي.

فعالیت

په ډلو کې د برېښنا د تولید په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- خلکو په پخوا وختونو کې د اوبو له قوې څخه څرنګه کار اخیسته؟

۲- له اوبو څخه څنګه کار اخیستلای شو؟

۳- د سیند له اوبو څخه برېښنا څرنګه ترلاسه کیږي؟

کورنۍ دنده

د خپل هېواد د برېښنا د بندونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د افغانستان کانونه او طبيعي زېرمې

پوښتنه

ستاسو په آند، د افغانستان مهم کانونه کوم دي؟

کان هغه ځای ته ویل کېږي چې په هغې کې د فلزاتو ډولونه او قيمتي ډبرې شتون لري.

افغانستان د ځمکنيو زېرمو او کانونو له امله شتمن هېواد دی. زموږ په هېواد کې کانونه اوطبيعي زېرمې، لکه: سره زر، سپین زر، لاجورد، زمرد، جست، مس، د ډبرو سکاره، طبيعي ګاز، نفت، مالګه، سلفر، ګوګړ، ګچ او داسې نور شتون لري.

د نفتو او طبيعي ګازونو زېرمې د تخار، کندز، جوزجان، فارياب، بادغيس، هرات، پکتيکا او نورو ولايتونو کې تثبيت شوي دي. همداراز، د مسوکان د لوګر ولايت د عينکو په سيمه کې او د اوسپنې کان د باميانو ولايت د حاجي

ګک په سیمه کې موقعیت لري.

له بده مرغه تراوسه پورې د ځمکې لاندې له زیاترو زېرمو څخه په ښه او فني ډول ګټه نه ده اخېستل شوې. د ډېرو سکاره چې د تودوخې لپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي، د بغلان ولایت د کرکر او آشپشتې له کانونو او د سمنګانو د دره صوف څخه او مالګه د تخار او هرات له نمکسار څخه لاسته راځي.

همدارنګه زینتي ډبرې، لکه: مرمر او رخام د غزني ولایت په جاغوري، ننګرهار، هلمند، کندهار، غوربند، میدان وردګ او پر نورو سیمو کې په پریمانه توګه موندل کېږي.

د کاني زېرمو صحیح او فني استخراج پرته له دې چې خلکو ته د کار زمینه برابروي، زموږ د هېواد د اقتصاد په لوړوالي کې هم ډېر ارزښتناک رول لري.

فعالیت

په ډلو کې د طبیعي زېرمو او د کانونو د اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- زموږ د هېواد په کومو ولایتونو کې د نفت او ګازو زېرمې شته لري؟

۲- د زینتي ډبرو نومونه واخلئ؟

۳- د ډبرو له سکرو څخه څ ه کار اخیستل کېږي؟

کورنۍ دنده

د عینکو د مسو د کان په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.